# مېرمن

افغانو مېرمنو ته ځانګړې شوې مجله
لومړی کال؛ لومړۍ ګڼه
منی؛ ۱۴۰۳ ل.ل

Merman
MEDIA



## د ښځو حقوق، اسلامي اصول او معاصر واقعیتونه

پشتنه اماني

اسلام پرته له دې، چې جنسیت او ټولنیز موقف په نظر کې ونیسي، ټولو انسانانو ته د درناوي توصیه کوي؛ نو په اسلامي حکومت کې ښځینه او نارینه له بشپړ امنیت او حمایت څخه برخمن دي. د اسلامي تمدن تاریخ که دقیق وڅېړو، ډېر داسي دلایل به ومومو، چې په سیاسي او ښاري حقوقو کې ښځې او نر سره مساوي دي. لکه ښځې د نارینه په شان د رایې حق، سیاسي منصب ته د نوماندېدو حق، دولتي اموراتو کې د مشورې حق، سیاسي جریاناتو کې د نظر او فعالیت حق، روغتیایي او تعلیمي آسانتیاوو ته د لاس‌رسي حق لري.

## د افغان ښځو سل کلنه مبارزه

نسیم احمدي

امان‌الله خان د لومړنیو ښځینه ښوونځیو په تاسیس، زده‌کړو او په ټولنیزو ډګرونو کې یې د بوختیا لپاره په تشویق سره د ښځو په حقونو کې سرلاری و. د هغه ښځه، ملکه ثریا، په هغو ښځو کې لومړنۍ وه، چې چابکه په عمومي عرصه کې راښکاره شوه او ښځې یې په ټولنیزو او فرهنګي کړنو کې ګډون ته وهڅولې او همدا رنګه امان‌الله خان په ۱۹۲۳ کال کې اساسي قانون تصویب کړ، چې په هغه کې د ښځو حقونه او آزادۍ تر یوه ځایه په رسمیت پېژندل شوې وې.



د «مېرمن» مجلې ټول حقونه له «مېرمن میډیا» سره خوندي دي.

# پیژندنه


نوم: مېرمن

د امتیاز خاوند: مېرمن میډیا

چیف اېډېټر: سهراب سپر

کتنپلاوی: د مېرمن میډیا غړي

ګرافیک ډیزاین: علي یزدان‌پناهي

د خپرېدلو نېټه: منی ۱۴۰۳ل.ل

د مجلې لیکوالان: پشتنه اماني
ستوری افغان
سوسن نوري
نسیم احمدي

د ویب‌پاڼې پته: www.merman.media


په لاندې ایمېل له موږ سره اړیکه ونیسئ


contact@merman.media

په ټولنیزو رسنیو کې مو هم څارلی شئ؛

Merman Media

Merman

Media



# لړلیک


**د لومړۍ ګڼې سریزه**

اداره

۲

**د ښځو حقوق، اسلامي اصول او معاصر واقعیتونه**

پشتنه اماني

۳

**د ښځو په پیاوړي کولو کې د معاصرو علومو د زده‌کړې هر اړخیزه رول**

سوسن نوري

۱۰

**اسلام او د ښځو اقتصادي پیاوړتیا**

ستوری افغان

۱۷

**د افغان ښځو سل کلنه مبارزه**

نسیم احمدي

۲۶

# د لومړۍ ګڼې سریزه

**د ټیټ‌غږو او بې غږو چیغه!**

د لوی څښتن په سپېڅلي نامه،

د ډېرې خوښۍ ځای دی چې مېرمن میډیا، د خپلې مجلې "مېرمن" لومړنۍ ګڼه تاسو درنو لوستونکو ته وړاندې کوي.

مېرمن مجله غواړي، چې د ټولو مېرمنو او ځانګړي ډول د افغان مېرمنو غږ شي، هغه غږ چې د غلي کېدو هڅه یې کېږي؛ خو پېړۍ کېږي، چې د افغان مېرمنو او د مېرمنو د حقونو د ملاتړو له خوا غلي کېدو ته نه پرېښودل کېږي.

افغان مېرمنو د تاریخ په اوږدو کې ډېر ستونزمن او کړکېچن حالاتو څخه عبور کړی دی او اوس‌مهال هم افغان مېرمنې تر ټولو سخت حالت کې د خپل رول ساتلو او د خپل هویت او حقوقو د ساتلو او ګټلو لپاره مبارزه کوي، چې ټولو خپلو ټولو مشروع حقوقو ته د معاصرې نړۍ دننه او مطابق لاسرسی ولري.

له خپلو ټولو کارکوونکو او همکارانو څخه مننه کوم، چې دلته یې له موږ سره همکاري کړې او زیار یې ویستلی دی، هغه که ډیزاینران دي، لیکوال او لیکوالانې دي، اېډېټران دي، یا هم پروف کوونکي دي، د دوی ټولو ګډو هڅو دا ممکنه کړه، چې نن یو تاریخي مسوولیت هم پیل شو او هم یوه لاره تېره شوه، چې لا به دوام ولري.

د مېرمن میډیا او مجلې اداره د لیکوالانو لیکنو ته د بشپړې ازادۍ او خپلواکۍ لرلو باندې قایله ده او د هرې لیکوالې یا لیکوال نظر او محتوا ته پوره درناوی لري. دوی هر یو یا یوه یې د خپلو لیکنو مسوولیت او ازادي لري، البته د مېرمن میډیا او مجلې اداره یواځې د دغه غمیو د صیقل کولو او لا ځلېدلو لپاره کار کوي او د هېڅ لیکوال او لیکوالې په متن کې د انشاء د تغیر راوړلو په استثناء، چې هغه تغیرات هم له لیکوال یا لیکوالې سره مخکې له خپرېدو شریکېږي، نور د محتوا او مفهوم د هېڅ ډول تغیر حق ځان ته نه ورکوي.

یو ځل بیا د مېرمن مجلې اداره له هرې لیکوالې او هر لیکوال د هرې کښلې کرښې، هرې هڅې او هر اخیستي ګام مننه کوي، چې د دغې مجلې د خپرېدو لپاره یې ترسره دي. دا اداره هیله لري، چې په راتلونکي کې هم مېرمنې او د مېرمنو ملاتړي سازمانونه، بنسټونه، رسنۍ او حقوقي او حقیقي اشخاص له موږ سره خپله همکاري وساتي او دا لړۍ لا وغځېږي.

مېرمن مجله او مېرمن میډیا هم تیاره ده، چې له هر هغه حقوقي او حقیقي شخص سره، چې د مېرمنو د حقوقو لپاره مبارزه کوي، خپله فعاله همکاري او په مبارزه کې ګډون ولري.

راتلونکو ګڼو ته خپلې لیکنې، نظرونه او رغنده نیوکې له موږ سره شریکې کړئ، چې دا خپ او غلې غوندې غږ په یوه چیغه بدل کړو!

**د مېرمن مجلې اداره**



# د ښځو حقوق، اسلامي اصول او معاصر واقعيتونه

پشتنه اماني



## لنډیز

په دې لیکنه کې په معاصرې اسلامي نړۍ کې د ښځو د وضعیت او په اسلام کې د ښځو د اصلي حقوقو پرتلیزه څېړنه شوې. په دې لیکنه کې دا ویل شوي، چې ښځې او نارینه د ټولنې د اتباعو او افرادو په توګه مساوي دي؛ خو دوی په حقوقو او مسوولیتونو کې یو شان نه‌دي. د اسلام په لومړیو کې ښځو ته د رهبرۍ، تعلیم او تصمیم نیولو په برخه کې د پام وړ مسوولیتونه او واک ورکړل شوی و. په لیکنه کې راغلي دي، چې د ښځو دا اسلامي تاریخي څواکمنتیا په اسلامي هېوادونو کې د ځینو ښځو د پیاوړتیا لپاره د الهام اصلي سرچینې دي؛ خو بیا هم هغه حقوق او مسوولیتونه، چې د اسلام مبارک دین ښځو ته ورکړي، که په پرتلیزه توګه یې په اسلامي ټولنو کې د ښځو له وضعیت سره وڅېړو، یوه لوی واټن ته به متوجه شو. اوس د دې اړتیا رامنځ ته کېږي، چې د ښځو اړوند دیني اصول او اساسات او د ښځو د فعالیت حدود، په اسلامي ټولنو کې د ښځو له حقیقي حالت سره هم‌غږي شي. په منځني ختیځ او شمالي افریقا کې او ګنو نورو جنګ‌ځپلو سیمو کې ښځې له پام‌وړ ننګونو سره مخ دي. دوی له ناامنۍ، کورني تاوتریخوالي او تعلیم او روغتیا ته له محدود لاس‌رسي څخه رنځ وړي. په دې هېوادونو کې د افغانستان په ګډون ضعیفه حکومت‌داري هم د جنسیتي نابرابرۍ او د ښځو د حقونو د نقص لامل شوې. د یوه اصل په توګه باید ووایو، چې له ښې حکومت‌ولۍ پرته، د ښځو وضعیت په افغانستان او نورو اسلامي ټولنو کې د ښه کېدو امکان نه‌لري. که په افغانستان او نورو اسلامي هېوادونو کې د ښځو د فعالیت اړوند خنډونه له منځه یوړل شي، مسلمانې ښځې دا وړتیا لري، چې په اسلامي نړۍ کې د ټولنیزو ستونزو، لکه فساد او جرمونو د حل په برخه کې مهم رول ولوبوي. دا هېوادونه که غواړي دوامداره ثبات ته ورسېږي، دولت باید داسې پلېټ‌فورمونه جوړ کړي، چې ښځې په هره برخه کې تر رهبرۍ او تصمیم نیولو پورې چارو کې برخه واخیستلی شي او په اسلام کې دوی ته له ورکړل شویو حقوقو څخه ګټه پورته کړي.

**کلیدي ټکي:** اسلامي نړۍ، اسلام، جنسیتي نابرابري ، د ښځو حقوق، MENA.

## وضاحت

په ټولو ټولنو کې د ښځو وضعیت نه نوې پدیده دی او نه هم په بشپړ ډول حل شوې مسله ده. په دې برخه کې ډېرې مطالعې شوې دي، چې د دې ښودنه کوي، چې په پخوانیو مدنیتونو کې حتیٰ د ۱۹مې پېړۍ تر اواخرو پورې ښځه د خاوند ملکیت ګڼل کېده. په دې کلونو کې ښځو نه د ملکیت او نه هم د مدني فعالیتونو لکه شاهدۍ، ضمانت او معلمۍ حق لاره. ډېر وروسته حتیٰ د ۱۸مې پېړۍ په پای کې د ښځو د حقوقو اړوند موضوعات په اروپا کې (په ځانګړې توګه په بریتانیا او فرانسه کې) د هغه وخت ګرم سیاسي موضوعات شول. په ۱۹مې پېړۍ کې اروپایي ښځو د کار، رایې او ملکیت حق تر لاسه کړ. هغه وخت په افغانستان کې هم نامتو مېرمنې د ګوتو په شمار وې. شاید عمده دلایل یې هم دا وو، چې ښځو تعلیم ته محدود لاس‌رسی لاره او ډېری مېرمنې بې‌سواده وې. په ټولنه کې د ښځو د رول اړوند هم داسې ویل کېدل، چې ښځې یوازې د ماشوم د روزولو او تربیې مسوولیت لري او د دې امکان ډېر کم و، چې ښځه دې په اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو فعالیتونو کې ونډه واخلي. د سلو کلونو په تېربدو سره افغانستان کې اوس هم د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی په ډېرو سیمو کې یوه عمده ستونزه ده.

د ښځو په وړاندې د هر ډول تبعیض د له منځه وړلو کنوانسیون (CE-DAW) د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ له خوا د ډېسمبر په ۱۸، ۱۹۷۹م کال کې تصویب شو. دا د ښځو لپاره د حقونو نړۍ‌وال قانون او د هېوادونو لپاره د دې حقونو د تضمین کولو لپاره د عمل اجنډا ده. دغو قوانینو یا په اصل کې (CEDAW) د ښځو د حقونو لپاره مهم حقوقي محافظتونه او خوندیتوبونه رامنځ ته کړي دي؛ خو په جنګ‌ځپلو هېوادونو کې به د دغو حقونو پلي کول یوه دوامداره ستونزه او ننګونه وي.

د دې لیکنې اصلي تمرکز په اسلام کې د ښځو حقونو پورې اړونده

روایتونو مطالعه ده او د اسلام د اساسي اصولو، د اسلامي تاریخ لومړنیو وختونو او په اوسني وخت کې د ښځو د وضعیت له واقعیتونو سره پرتلیز چلند کوو. ډېری مصاصرپوهان په دې موافق دي، چې اسلام لومړی دین و، چې په اوومه پېړی کې یې ښځو ته پراخ ټولنیز، قانوني، اقتصادي او سیاسي حقوق ورکړل. د مثال په توګه ویلیم مونټګومري واټ ویلي وو، چې پیغمبر(ص) په تاریخ کې د ښځو د حقوقو لوی مدافع و.
په هر صورت په عصري اسلامي نړۍ کې ښځې له پاموړ ننګونو سره مخ دي. عمده دلایل یې ناامني، کورني او کلتوري ناوړه ګټه اخیستنه او تعلیم او روغتیا ته محدود لاسرسی یادولی شو. په دې لیکنه کې هڅه شوې چې د ښځو د حقوقو په اړه د اسلام د پرمختللو نظریاتو او د هغو ستونزو او واقعیتونو تر منځ دا توپیر وڅېړل شي.



## ښځې د قرآن او سنتو په رڼا کې

قرآن او د پیغمبر(ص) ښوونې دا وایي، چې نارینه او ښځینه دواړه برابر او مساوي حقوق لري، حتیٰ که په ټولنه او کډ ژوند کې د دوی رول یو شان نه وي، بیا هم دواړه د ورته امتیازاتو حق لري. خدای تعالیٰ په‌خپل حکمت سره ټول موجودات جوړه پیدا کړي. د ښځو په وړاندې هر ډول تبعیض د اسلام له نظره غیر انساني دی. په افغانستان کې له اسلام څخه د غلط درک په پایله کې په ښځو باندې ځینې محدودیتونه د وخت په اوږدو کې وضعه شوي. د افغانستان اسلامي امارت هم پرته له دې، چې خپل لیدلوری او موقف په شرعي دلایلو دفاع کړي، د ښځو د تعلیم او کار حق یې دا درې کاله نقص کړی. سره له دې چې اسلام ښځینه او نارینه ته د تعلیم تر لاسه کولو او کار کولو برابر حق ورکړی؛ خو بیا هم د افغانستان اسلامي امارت دې حق ته قایل نه‌دی. لا تر اوسه دا معلومه نه‌ده، چې په راتلونکي کې به طالبان د ښځو د تعلیم او کار حق ورکړي او که نه؟
اسلام دا ښوونه کوي، چې نارینه او ښځینه په معنوي لحاظ سره مساوي دي. دواړه په‌خپل ژوند کې خپلواک دي او جلا جلا به د قیامت په ورځ حساب ورکوي. اسلام ښځو ته د پیسو، املاکو، د ملکیت حق ورکوي. وګورئ که یوې ښځې ته دوه یا درې لکه ډالر په میراث کې ورسیږي او د ښځې د ژوند مصارف هم د هغې د خاوند په غاړه دي؛ نو په دا لوی مقدار پیسو څه وکړي؟ اسلام وایي، ښځه خپلواکه کاروبار لرلی شي. په مضاربت، مشرکت پیسې ورکولی شي.
قرآن، سنتو او د علماوو په اجماع کې هیڅ داسې روایت نه‌شته، چې ښځې دې له سیاسي او عامه حقوق محرومې کړي. (حسن،۱۹۹۳)
د محمد هاشم کمالي په وینا، ښځې د اسلام په اوایلو کې له عامه ځیزونو محرومې نه وې، وروسته چې هر محدویت رامنځ ته شوی، په ښځو باندې د حاکمو شرایطو له امله دی، نه د شریعت له امله. لکه په افغانستان کې د ښځو اړوند د دویزو علماوو او طالبانو نظر او استدلال، چې ښځې د فساد اصلي لاملونه دي؛ نو باید په کور کې پاتې شي. عام خلک هم له کلتوري لحاظه دې ته حاضر نه‌دي، چې ښځه دې په لوړو بستونو کار وکړي؛ هغه مشهور متل به تاسو اوریدلی وي، چې ښځه یا د کور ده، یا د ګور (قبر).
په واقعیت کې که وګورو د اسلام په اوایلو کې عالمې او فعالې ښځې ډېرې وې. د اسلامي تمدن په غوړېدا کې یې له نارینه‌وو سره متناسبه ونډه لرله. دلته څو بېلګې لیکو؛
د رسول(ص) د ژوند په اوږدو کې ښځې د نارینه‌وو تر څنګ په مهمو اداري پوستونو ګومارل شوې وې. رسول(ص) د سمرا بنت

نوحیک الاسدیه په نامه یوه ښځه د محتسبي، یا بازارپلټونکي او کنټرولکوونکي په توګه وټاکله، چې سوداګریز فعالیتونه تنظیم کړي او د عامه ګټو ساتنه وکړي. سمرا بنت نوحیک د لومړیو دوو خلیفه‌ګانو د واکمنۍ پر مهال هم دغه مقام درلود. خلیفه عمر بن الخطاب(رض) یوه بله ښځه الشفاء (لیلا) بنت عبدالله په نامه د بازار د مفتشې او مدیرې په توګه وټاکله. هغه د خپلې پوهې، تقوا او اخلاقو له امله په ټولنه کې مشهوره وه.
د رسول(ص) محبوبې مېرمنې عایشه بنت ابوبکر (رض) د اسلام په وده، پرمختګ او اسلام‌پوهنې کې مهم رول لوبولی دی. هغې له رسول(ص) څخه د علم زیاته برخه مسلمانانو ته انتقال کړه او په ډېرو چارو کې هغه د رسول(ص) مشاور وه. عایشه(رض) د سیاست په نړۍ کې ښکېله وه، د بېلګې په توګه په ۶۵۶م کال کې د اوښ (جمل) د جګړې په وخت کې عایشه(رض) د خپل سیاسي لیدلوري په لرلو، د حضرت علي(رض) مخالفت وکړ، د یوه لښکر مشري یې په غاړه واخیسته، په داسې حال کې چې په اوښ سپره وه او خپلو طرفدارانو ته یې وینا یې هم کوله. په دې جنګ کې مشهور صحابه طلحه او زبیر(رض) له عایشې(رض) سره ملګري وو او په یوه واحد صف کې یې جنګ کاوه.



د صحابه‌وو له وخت وروسته د تابعینو له نسل څخه د علم په برخه کې عمره بنت عبدالرحمن یادولی شو. هغه د عایشې بنت ابوبکر شاګرد او سکرتره وه. عمر بن عبدالعزیز د هغې ستاینه کوي او وایي له عایشې څخه په احادیثو کې له عمره پرته څوک ډېر نده پوه شوې. ویل کې کیږي چې عمره بنت عبدالرحمن د خپل ژوند په اوږدو کې د قضاء دنده هم ترسره کړه.
د حضرت سعد بن ابي وقاص(رض) لور، عایشې په اسلامي علومو کې ډېره پوهه درلوده. د امام ملک، حکیم بن عطیه او ایوب السختیاني په شمول څو مشهور فقهاء او حدیث‌پوهان د هغې شاګردان وو.
امام شافعي هم په مصر کې د رسول(ص) د اولادې له یوې ښځې سیده نفیسه بنت الحسن بن علي ابن ابي طالب څخه، چې د هغه وخت له مخکښو عالمانو څخه وه، د حدیثو علم زده کړی دی.
د اسلامي ټولنې په لومړیو کې ښځې په عامه، سیاسي، اقتصادي او تعلیمي برخو کې په فعاله توګه بوختې وې. هغه وخت په پوستونو کې ګومارنې د فرد د وړتیاوو او مهارتونو پر بنسټ وې، نه د جنسیت پر بنسټ.

## ښځې د اسلامي حکومت د اتباعو په توګه

اسلام پرته له دې، چې جنسیت او ټولنیز موقف په نظر کې ونیسي، ټولو انسانانو ته د درناوي توصیه کوي؛ نو په اسلامي حکومت کې ښځینه او نارینه له بشپړ امنیت او حمایت څخه برخمن دي. د اسلامي تمدن تاریخ که دقیق وڅېړو، ډېر داسې دلایل به ومومو، چې په سیاسي او ښاري حقوقو کې ښځې او نر سره مساوي دي. لکه ښځې د نارینه په شان د رایې حق، سیاسي منصب ته د نوماندېدو حق، دولتي اموراتو کې د مشورې حق، سیاسي جریاناتو کې د نظر او فعالیت حق، روغتیایي او تعلیمي آسانتیاوو ته د لاسرسي حق لري. (کمالي ۲۰۲۳)
رسول(ص) سره د ښځینه‌وو او نارینه‌وو جلا جلا بیعت په ټاکنو کې د ښځو د ګډون پر جواز دلالت کوي.
ښځې کولای شي د حکومت په کړنو انتقاد وکړي. قرآن کې امربالمعروف او نهي عن المنکر د ټولو مسلمانانو وجیبه ګرځول شوې؛ نو ښځې هم د نورو مسلمانو په څېر، هغه که دولت هم وي، نیوکه وکړي او کړنې یې ونګوي. په قرآن، سنتو او اسلامي تاریخ کې داسې ډېر مثالونه شته، چې ښځو حتیٰ له رسول(ص) سره په یوه موضوع جدي بحثونه کړي.

لکه یوې ښځې د عمر^(رض)^ په وخت کې په جومات کې په هغه نیوکه وکړه او خپله ادعا یې ثابته کړه، عمر^(رض)^ اعلان وکړ، چې عمر ناحق او هغه ښځه په حقه ده. دا ټول مثالونه په ټولنه کې د ښځو د سیاسي او ټولنیز فعالیت په جواز باندې دلالت کوي.

## په معاصرو اسلامي ټولنو کې د ښځو وضعیت

په اوومه پېړۍ کې د اسلامي ټولنو ښځې دومره ځواکمنې شوې، چې د دوی فعالیتونو اسلامي تمدن ته رنګ ورکړ؛ خو بیا هم هغه د پیاوړتیا اندازه، چې قرآن ښځو ته په نظر کې نیولې، د تاریخ په اوږدو کې په یو نه یو ډول سره نقص شوې. اوس هم په مسلمانو ټولنو کې ښځې له اقتصادي او سیاسي محدودیتونو سره مخ دي. دا د آیډیالوژۍ او واقعیت تر منځ د لوی واټن ښودنه کوي.
د اسلامي هېوادونو په ډله کې د منځني ختیځ او شمالي افریقا هېوادونه د تاریخ په اوږدو کې له سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو ستونزو سره مخ وو. شاید عمده دلیل یې د ډېر وخت لپاره تر استعمار لاندې اوسېدل وي؛ خو وروسته له استعمار څخه هم دوی له ورته مشکلاتو سره مخ وو، چې عمده دلیل یې د پاچاهانو له خوا د هېوادونو اداره کول وو، هغوی چې د خلکو د اړتیاوو په پوره کولو کې پاتې راغلل. بېوزلي، خوارځواکي او د روغتیایي خوندیتابه نهشتوالی هم د دې هېوادونو له مهمو ستونزو څخه دي، چې ښځې یې د نارینهوو په پرتله ډېرې ځپلې دي. دا سیمه د نړۍ د شاوخوا ۷۰ میلیونو بېوزلو کور دی، چې د ورځې ۲ ډالره عاید لري او د ۲۰ میلیونو خوراً بېوزلو کور دی، چې د ورځې ۱.۲۵ ډالره عاید لري.
افغانستان د ښځو لپاره داسې یوه ټولنه ده، چې پهکې له ګڼو ستونزو سره مخ دي. د ۲۰۲۱م کال اوړي کې د طالبانو له بیا راتګ سره د افغان ښځو په ژوند تیاره خپره شوه. ګڼ اساسي او حیاتي حقونه یې نقص شول؛ له شپږم ټولګي پورته ښوونځي وتړل شول، ښځې له شل کلن تحصیل سره اوس په کور ناستې دي، د کار کولو او مدني فعالیتونو ترسره کولو له امله سختې ځورول کېږي. طالبانو د ښځو په وړاندې تبعیضي چلند کې د هغوی پر مخ پارکونو ته تګ منعه کړ او په آخرو کې یې د ښځینه آرایشګاوو د تړلو فرمان هم صادر کړ، چې د BBC د راپور په اساس ۶۰ زره ښځې بېروزګاره شوې.
د طالبانو د حجاب ډول هم سخت جبري شوی او ښځې نهشي کولای تر ۷۲ کیلومتره اضافه یواځې په سفر لاړې شي. جالبه دا ده، چې دې ټولو ته شرعي دلایل تراشي، چې په کور دننه او بهر یې نور ډېر اسلامي علما مخالف دي.
په افغانستان کې د ښځو وضعیت ناهیلي کېدو خوا ته روان دی. د طالبانو د سترې محکمې د رییس شیخ عبدالحکیم حقاني یو کتاب، چې د دوی د امیر په تایید سره نشر شوی، په واضحو الفاظو وایي، چې ښځې ته په اسلام کې هېڅ وخت د حاکم د ټاکلو حق نهدی ورکړل شوی. په دې کتاب کې وایي، چې ټول عوام نهشي کولی د حاکم په ټاکلو کې ونډه واخلي؛ ځکه دوی عالمان نه حسابېږي. کله چې ښوونځي او مکتبونه تړل شوي وي، څوک به چېرته عالم شي.
ستونزه به هلته لویه شي، کله چې د طالبانو همدا سیاستـــونه دوام



وکړي، وګورئ په نړۍ کې د غریبانو له اندازې څخه ۷۰ سلنه یې ښځې دي. که دلیل یې وڅېړو، تر ټولو ستر لامل به یې جنسیتي نابرابري وي؛ ځکه فقر او جنسیتي نابرابرۍ په یوه بل کې نغښتي دي.

## په اسلامي نړۍ کې د ښځو د پرمختګونو ستاینه

په اسلامي نړۍ کې له سیاسي او ټولنیزو ننګونو سره سره په دې ټولنو کې د ښځو د اصلي حیثیت ساتلو او پیاوړي کولو په اړه د تعلیمیافته حلقو تر منځ د بحثونو کچه مخ په ډېرېدو ده. دوی په حکومتونو فشار راوړی، چې دواړو جنسونو لپاره د زده‌کړو او کارموندنې مساوي حقونه چمتو کړي. د بېلګې په توګه د مالیزیا حکومت له اوږدې مودې راهیسې د جنسیت له تبعیض پرته په تعلیمي سکتور پانګونه کړې. لوړو زده‌کړو کې د مالیزیایي ښځو ګډون تر ٪۶۵ سلنه رسېږي. دغې چارې ښځو ته توانایي ورکړه، چې لوړ معاش لرونکې دندې اشغال کړي. په مالیزیا کې په ۲۰۰۰م کال کې ٪۵ د لوړ پوړو چارواکو له جملې ښځې وې؛ دا سلنه په ۲۰۰۲م کال کې ٪۵.۳ ته لوړه شوه. اوس په مالیزیا کې مېرمنې د کاري ځواک ٪۴۷ تشکیلوي. په عامه او اقتصادي برخو کې د ښځو دا فعاله ونډه د هېواد د اقتصادي او سیاسي ثبات په برخه کې یو له مهمو عواملو څخه شمېرل کېږي. د سروې له مخې مالیزیا د آسیا په کچه درېیم هېواد دی، چې کم فساد په‌کې دی. د مالیزیا مثال دا ښوونه کوي، چې جنسیتي نابرابري او فساد مستقیمه اړیکه لري. په هغو هېوادنو کې چې د ښځو د پیاوړتیا او د جنسیت د برابرۍ هڅې زیاتې دي، هلته د فساد کچه د وخت په تېرېدو کمه شوې ده. ورستیو څېړنو ښودلې، چې پیاوړې ښځې په لوړه سطحه د پرېکړو کولو صلاحیت لري، پیاړوې لوبغاړې ثابتېدی شي، چې له فساد سره مبارزه وکړي. د مریلېنډ پوهنتون د IRIS مرکز له خوا یوه څېړنه ښایي، چې په عامه بستونو کې د ښځو اشتغال د اداري فساد له ټیټې کچې سره تړاو لري. د هېوادونو تجربو هم دا ثابته کړې، چېرته چې د کار لویه برخه ښځې تشکیلوي او چېرته چې مېرمنې د پارلمان په څوکیو کې زیاته برخه لري، هلته د فساد کچه ټیټه وي.(سوامي او نور،۱۹۹۹، مخ.۱۹)

اروپوهان وايي، مېرمنې ممکن د اخلاقي چلند لوړ معیاورنه ولري او داسې ښکاري، چې د عامه ګټو په وړاندې ډېرې اندېښمنې وي.(دلار ۱۹۹۹)

په افغانستان کې هم د جمهوریت په وخت کې د فساد ضد مبارزې په برخه کې د زیاتو ښځو د ګومارلو پالیسي پیل شوې وه. د ترهګرۍ په وړاندې تش په نامه د امریکا مبارزې افغانستان د نړۍ په تر ټولو له فساده ډک هېواد بدل کړی و؛ خو بیا هم په هغه وخت کې د افغانستان لوی څارنوال عبدالسلام اعظیمي تایید کړې وه، چې په ټول افغانستان کې د فساد له لوړې کچې سره سره په هېواد کې ښځینه قاضیانې د فساد یوه قضیه هم نه‌لري. هغه وخت په افغانستان کې ۱۸۰ ښځینه قاضیانې وې، چې د ټولو قاضیانو ٪۱۰ یې جوړوله. اوس دې ته یو ضرورت دی، چې ښځینه قاضیانې په محکمو کې وګومارل شي؛ دا په دوو دلیلونو سره؛

۱. په ټوله نړۍ کې د نارینه‌وو په پرتله د ښځینه قاضیانو د فساد قضیې ډېرې کمې دي.

۲. ښځینه شکایت کوونکې کولی شي، خپلې ستونزې د نارینه قاضي په پرتله له ښځینه قاضي سره په غوره توګه شریکې کړي.

د افغانستان جمهوري حکومت په پام کې لرله، چې د جنسیت له مخې د واک وېش انډول له قضا څخه بهر د حکومت نورو برخو ته هم وغځوي. همدا وو، چې په هغه وخت کې د افغانستان په ولسي جرګه کې د ۲۴۹ استازو له ډلې ۶۹ ښځې وې، چې ۲۷.۷ سلنه یې تشکیلوله. په دې توګه افغانستان د نړۍ له ۱۸۹ هېوادنو څخه په مقننه قوه کې د ښځو له زیاتې ونډې سره د نړۍ ۳۷م هېواد شو.

هېوادنو څخه په مقننه قوه کې د ښځو له زیاتې ونډې سره د نړۍ ۳۷م هېواد شو.

## پایله

له یوې لنډې ارزونې وروسته (په اسلامي نړۍ کې د ښځو وضعیت او د هغوی اسلامي حقوق) اړوند داسې پایله اخلو؛

۱. اسلام له اوومې پېړۍ راهیسې ښځې له پرمختللو حقوقو سره ځواکمنې کړې دي. د اسلام په لومړیو کلونو کې ښځو په ټولنه کې د ښوونکو، عالمانو، کاروباریانو او عامه/سیاسي شخصیتونو په توګه مهم رول لوبولی دی. په اسلام کې ښځې د یوه هېواد د اتباعو په توګه له بشپړو او مساوي، اساسي، مدني او



بشري حقوقو څخه برخمني دي، پرته له دې چې جنسيت يا موقف يې په نظر کې ونيول شي. اسلام په ځينو اسلامي هېوادونو کې د ښځو په وړاندې دا د نن ورځې چلند او غلط‌فهميو او دسيسو برعکس ولاړ دی. په داسې حال کې چې د اسلام تاريخي او ديني ريښې د ښځو حقونه او مساوات ساتي.

۲. مسلمانې ښځې نن سبا له ګڼو ستونزو سره مخ دي، لکه سياسي، اقتصادي او ټولنيزې. دا ستونزې په يوه هېواد کې د اتباعو حقوقو ته د درناوي له نه‌شتوالي سره تړاو لري.

۳. دې ليکنې د ښې حکومتولۍ او د ښځو د حقونو تر منځ مستقيمه اړيکه ښودلې. کله چې په هېوادونو کې جنسيتي نابرابري زياته وي، هلته فساد او ضعيفه حکومتولي زياتېږي. برعکس چېرته چې جنسيتي مساوات وي، هلته ښه حکومتولي، دوامداره وده، پرمختيا او د بې‌وزلۍ کمښت ترلاسه کېږي.

مسلمانې ښځې دا وړتيا لري، چې په اسلامي نړۍ کې د فساد، ټولنيزو ستونزو، تاوتريخوالي او جرمونو په کمولو کې اساسي رول ولوبوي. د پاليسي جوړولو په پروسو کې د ښځو فعاله ونډه د اسلامي ټولنې (امت) د بریالیتوب لپاره کليدي راز کېدی شي.

### وړانديزونه

دا ليکنه لاندې وړانديزونه او سپارښتنې کوي؛

چارواکې بايد د جنسيت پر بنسټ د تبعيض، فساد، نفاق، سياسي او اقتصادي بې‌عدالتيو مخه ونيسي، ځکه د ټولنې د هوساينې، امنيت او ثبات مخه نيسي. هر دولت بايد د واک لاندې وګړو حقونه تضمين کړي، پرته له دې چې جنسيت، عمر، مذهب، ټولنيز دريځ يا توکم ته پام وکړي.

د ښځو غوښتنې او حقونه بايد د هيڅ بهرني يا داخلي لوري له خوا له پامه ونه غورځول شي. حکومتونه بايد د ښځو لپاره يو پليټ‌فورم چمتو کړي، چې په فعاله توګه د قانون‌جوړونې او پاليسي‌جوړونې پروسو کې برخه واخلي. په اسلامي نړۍ کې د ښځو د پام وړ ظرفيت بايد وپېژندل شي، چې د هېوادونو په ځان بسياينې کې ترې ګټه واخيستل شي.

مسلمان ديني مشران، قاضيان، امامان او د ټولنو مشران بايد په اسلامي ټولنو کې د ښځو د رول د ښه پوهاوي لپاره په انفرادي او ټوليزه توګه کار وکړي. په اسلامي نړۍ کې له اوږدې مودې راهيسې له ښځو سره د ناوړه چلند د زيانونو او منفي پايلو د مخنيوي لپاره بايد روښانفکره افراد مبارزه وکړي.

په لوړو معاشاتو او مديريتي پوستونو ګومارنه بايد د کانديدانو د وړتيا او مهارتونو پر بنسټ وي، نه د جنسيت پر بنسټ. که چېرې يوه ښځه يا نارينه د خپلې ټولنې، شرکت، موسسې د رهبرۍ وړتيا ولري، پرته له جنسيتي توپير څخه د مشرتابه موقف ترلاسه کړي. دا له اسلامي لارښوونو سره سمون لري.

رسنۍ او تعليمي سېستم بايد په فعاله توګه د اسلامي حکومتدارۍ لاندې په اسلام کې د ښځو د مقام په اړه عامه پوهاوي لوړولو لپاره وکارول شي. د اسلامي حکومتدارۍ له نظره دې د ښځينه اتباعو حقوق د پوهنتون په نصاب کې داخل شي او درسي کتابونه دې چمتو شي، چې مسلمان ځوانان وروزي، چې له ښځو سره سم چلند وکړي.

## مأخذونه


کتابونه او علمي مقالې؛

۱. حقوق زنان در اسلام. نوشته‌ی نویسندگان مختلف که به بررسی اصول اسلامی و تفسیرهای مختلف از آن می‌پردازند.

۲. فیمینیزم و اسلام، ژورنال مطالعات اسلامی.

۳. زنده‌گی نامه بی‌بی عایشه. مترجم، داوود نارویی.

4. Ahmed, Nazeer (n.d.), "Women Sovereigns in Islam," History of Islam: An Encyclopedia of Islamic History, available at http://historyofislam.com/contents/the-post-mongol-period/women-sovereigns-in-Islam. Retrieved on 22 December 2014.

5. Kamali, Mohammad Hashim (2002), Freedom, Equality and Justice in Islam, Malaysia: Ilmiah Publishers.

6. Kamali, Mohammad Hashim (2013), Citizenship and Accountability of Government: An Islamic Perspective, Kuala Lumpur: IAIS & Ilmiah Publishers.


7. Swamy, Knack, Lee and Azfar (1999), "Gender and Corruption," IRIS Centre Working Paper No. 232.

8. Transparency International (2014), "Gender, Equality and Corruption: What Are the Linkages?" Policy Brief 01/2014.

Arabic:

9. Al-Mawardi, Abu al-H . asan (1386AH), Kitab al-Ah .kam al-Sult .aniyyah (2nd edn.), Cairo: Mus .t .afa al- Babi al-H . alabi, p. 65.

10. H . asan, 'Abd al-H . ak¯ım H . asan (1983), Al-'¯Il¯ı, al-H . urriy¯at al-'Ammah, Cairo: D¯ ar al-Fikr.



# د ښځو د پیاوړي کولو په برخه کې د معاصرو علومو د زده‌کړې هر اړخیزه رول

سوسن نوري

## لنډیز

پر معاصرو علومو د ښځو پیاوړي کول، د هغوی د مهارتونو، پوهې او پر ځان یې د باور د زیاتېدو لامل کېږي. د ساینس، ټېکنالوژۍ، انجینرۍ او ریاضیاتو ډګرونو ته په ورګډېدلو سره، هغوی د ټولنې په اقتصادي، ټولنیزې او فرهنګي پراختیا کې د فعال ګډون وړتیا تر لاسه کولی شي.

د معاصرو علومو زده کړه ښځې نه یواځې له ځاني لوري ځواکمنوي، بلکې په مختلفو ټولنو کې د هغوی د جنسیتي نابرابریو د کمولو او د هغوی حقونو ته د ودې ورکولو لاره هم هواروي. په پایلې کې، معاصر علوم د ښځو په هر اړخیزې ودې او پرمختګ کې ښکارنده رول لوبوي.



**کلیدي کلمې:** معاصر علوم، د ښځو ځواکمنول، د معاصرو علومو ارزښت او اړتیا


## سریزه

د معاصرو علومو زده کړه د ټولنو د بدلانه لپاره یوه پیاوړې وسیله ګڼل کېږي. د معاصرو زده‌کړو اهمیت، نه یواځې د هغو په اقتصادي او مالي پایلو کې دی، بلکې د ټولنې په بنسټیز تحول او دوام‌داره پرمختګ کې هم رغنده رول لري.

دا مقاله د دیني، اقتصادي، ټولنیزو، کلتوري او فلسفي نظریاتو په رڼا کې، د معاصرو علومو له لارې د ښځو د پیاوړي کولو څرنګوالی څېړي. هم‌دارنګه، د معاصرو علومو زده‌کړه د نننۍ نړۍ په اقتصادي، ټولنیز او کلتوري پرمختګ کې د یوې مهمې وسیلې په توګه رول تر سره کوي.

معاصر علوم په هر اړخیزه توګه ټېکنالوژي، زده‌کړه، روغتیا او نوښتونه رانغاړي، چې د یوې اغېزناکې وسیلې په توګه د ښځو په ځواکمنولو کې حیاتي رول لوبولی شي.

## د مفاهیمو تعریفونه

**معاصر علوم:** هغو علومو او پوهنو ته نغوته کوي، چې په اوسني یا معاصر وخت کې شته، په ځانګړې ډول د STEM (Science, Technology, Engineering, Mathematics) برخې زده‌کړې، د معاصرو زده‌کړو له مهمو برخو څخه دي.

**د ښځو ځواکمنول:** منابعو، زده کړو او مساوي حقونو ته د هغوی د لاس‌رسي ډېرېدو ته اشاره کوي، چې په ټولو برخو کې د دوی د پرېکړې نیونې او مشارکت د ځواکمنېدو لامل کېږي.

## په معاصرو علومو کې د ښځو د زده‌کړو فرصتونه او ننګونې

معاصره زده کړه ښځو ته دغه وړتیا ورکوي، چې په کاري ځواک کې برخه واخلي، اقتصادي خپلواکي ترلاسه کړي او د خپل ژوند په اړه په شعوري ډول پرېکړې وکړي. دوی د طب، انجینرۍ او کارآفرینۍ ځانګو ته تلی شي او په پام



وړ توګه له خپلو کورنیو او د هېواد له اقتصاد سره مرسته کولی شي، دا ښځې به، د زده‌کړو په برکت، وړتیا پیدا کړي، چې دوديز جنسيتي رولونه ونګوي، او په خوځنده توګه د هېواد راتلونکی جوړ کړي. د کار په بازار کې د ښځو يو لوی سرخوړی، په تخصصي ډګرونو کې د اړينو مهارتونو نه‌لرل دي، معاصر علوم د نويو مهارتونو له لارې ښځو ته دا وړتيا ورکوي، چې د کار بازار ته ننوځي او په مختلفو ډګرونو، لکه ټېکنالوژی، طبي علومو، انجينرۍ او تجارت کې فعاليت وکړي.

باسواده ښځې، فکري او مهارتي تنوع د روغتيا او ټېکنالوژۍ مختلفو برخو ته لېږدوي، چې د ټولې ټولنې په ګټه ده، کله چې ښځې زده‌کړې ويني، ډېر احتمال شته، چې په مدني ژوند کې ګډون وکړي، د خپلو کورنيو په وسا کېدو کې مرسته وکړي او پر راتلونکو نسلونو باندې يې په خپلې پوهې او مهارتونو ملا وتړي.

## ښځو ته د معاصرو علومو د زده‌کړې د اهميت او اړتيا لپاره ارزښتناک دلايل

د دې موضوع د اثبات له‌پاره، چې معاصر علوم ښځې ځواکمنولی شي، له فرهنګي، ديني، علمي او فلسفي ليدلوريو ګټه اخيستلی شو، ډېرو فرهنګونو، دينونو، علماوو او فيلسوفانو د زده‌کړې او پوهې پر ارزښت تاکيد کړی دی او زده‌کړه يې د ټولنيز او ځاني، په ځانګړې توګه د ښځو له‌پاره، د پرمختګ د يوې اصلي وسيلې په توګه معرفي کړې ده. دلته د دغو جوانبو رنګارنګ ليدلوري څېړو:

## ديني دلايل

د نړۍ سترو دينونو هم د ښځو او نارينه‌وو د زده‌کړې پر ارزښت ټينګار کړی دی، د اسلام، مسيحيت او يهوديت غونډې په توحيدي دينونو کې، زده‌کړې د روحاني او ټولنيزې ودې لپاره د يوې وسيلې په توګه تر ټينګار لاندې راغلې دي.

## د علماوو او فيلسوفانو نظريات

په تاريخ کې ګڼ شمېر فيلسوفانو او علماوو د ښځو د زده کړو پر اهميت ټينګار کړی او



هغه يې د ښځو د ځواکمنولو او ټولنيزې برابرۍ د رامنځته کولو يوه وسيله ګڼلې ده.

## فلسفه پوهان او د ښځو د زده‌کړو اهميت

**افلاطون:** افلاطون، د لرغوني يونان فيلسوف، پر دغه باور و، چې ښځې او نارينه بايد ورته زده کړې ترلاسه کړي، چې په ټولنه کې اغېزناک رولونه ولوبوي. هغه باور درلود، چې ښځې کېدای شي، هغومره چې په ټولنې کې سړي په مديريت او رهبرۍ برلاسي دي؛ اغېزناکې وي؛ که هغوی ته د زده‌کړې موقعه ورکړی شي.

**جان سټوارټ مېل:** دغه انګرېز فيلسوف يې په خپل کتاب (ښځتوب او آزادی) کې استدلال کوي، چې د ښځو زده‌کړې د ټولنې په جنسيتي برابريو او د ټولنې په پرمختګ کې مرسته کولی شي. هغه باور درلود، په زده‌کړو باندې د ښځو ځواکمنول، نه يواځې خپله د ښځو؛ بلکې د ټولې ټولنې په خير ده.

**فاطمه مرنيسي:** فاطمه مرنيسي، مراکشۍ ټولنپوهه او فيلسوفه، د مسلمانو ښځو په ځواکمنولو کې د زده‌کړو د ارزښت په څېړنې بوخته شوه، هغه په دغه باور وه، چې معاصر علوم کولی شي، مسلمانې ښځې له ټولنيزو او فرهنګي محدوديتونو خلاصې کړي او له هغو سره مرسته وکړي، چې په سياست او اقتصاد کې اغېزناک رول ولوبوي.

## علمي دلايل

له علمي لوري، څېړنو ښودلې ده، چې د معاصرو علومو زده کړه د ښځو په ځـان‌باورۍ او خپل‌واکۍ کې مهم رول لوبوي. زده‌کړه ښځو ته دغه فرصت ورکوي، چې نوي مهارتونه زده کړي، په ښو بوختياوو کې په کار پيل وکړي او له اقتصادي لوري لا خپل‌واکې شي.

**د ملګرو ملتونو څېړنې:** د ملګرو ملتونو او يونسکو له راپوروونو سره سم، د ښځو زده کړې د دوامداره پرمختګ يو اساسي عامل دی. دا زده کړې د روغتيا د سطحې په لوړولو، د فقر په کمولو او اقتصادي منابعو ته د لاس‌رسي په زياتواليکې مرسته کوي.

## ټولنيز او اقتصادي دلايل

د ماصرو علومو زده‌کړه ښځو ته دغه وړتيا ورکوي، چـــې له



ټولنيز او اقتصادي لوريو پرمختګ وکړي، په ډېرو ټولنو کې زده‌کړو د ښځو د اقتصادي شرایطو د ښه‌والي لپاره د يوې وسيلې په توګه کار کړی دی او د دې لامل شوې دي، چې هغوی يې په ژوند کې له زياتو فرصتونو برخمنې شي.

**دندې او اقتصاد:** د معاصرو علومو په ډګرونو، لکه معلوماتي ټېکنالوژۍ او انجینرۍ کې زده‌کړې، د دې لامل شوې دي، چې ښځې د کار په بازار کې ډېر حضور ولري او په رنګارنګ صنايعو کې ډېره برخه په لاس راوړي، دغه شي نه يوازې د ښځو د اقتصادي وضعيت په ښه‌والي؛ بلکې د ټولې ټولنې په اقتصادي پرمختګ کې هم مرسته کړې ده.

په ټولنيز پرمختګ کې د ښځو رول: هغه ښځې چې زده کړو ته لاس‌رسی لري، په ټولنيزو او مدني فعاليتونو کې يې ګډون زيات دی. دوی کولی شي، د سيمې مشرانې، سياستمدارانې او ټولنيزې فعالې شي او د خپلې ټولنې د شرایطو په ښه‌والي کې مهم رول تر سره کړي.

## د قرآن کريم آيتونه، چې علم ته اشاره کوي

په قرآن کريم کې علم د لويو الهي نعمتونو څخه ګڼل شوی دی. په سورة مجادله کې الله (ج) فرمايي:

”يَرْفَعِ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَالَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ دَرَجَاتٍ“

(الله (ج) به هغه کسان چې ايمان يې راوړی دی او هغه، چې هغوی ته پوهه ورکړل شوې ده، لوړو درجو ته پورته کړي.)

دغه آيت د انسانانو د معنوي او ټولنيز رشد لپاره د علم د ارزښت ښوونکی دی، چې ښځې هم ورګډېږي.

## په علمي تاريخ کې دمسلمانو ښځو ونډه

د اسلام تاريخ ښيي، چې مسلمانو ښځو تل د علومو په زده‌کړې او يادونې کې رول لرلی دی، ډېرې مسلمانې ښځې؛ لکه عايشه بنت ابوبکر، د محمد (ص) ښځه، عالمې او فقيهې وې او نورو ته يې زده‌کړه ورکوله. دغه مثالونه ښکاروي، چې اسلام تل ښځې د علم زده‌کړې ته تشويق کړې دي.

## معاصر علوم د شريعت د مقاصدو د پلي کېدو لپاره د وسيلې په توګه

اسلام د شريعت د مقاصدو (لکه د دين، ژوند، عقل، نسل او مال ساتنې) په پلي کېدو پسې دی. معاصر علوم لکه د ساينس، انجينري او معلوماتي ټکنالوژۍ علوم، د دې موخو په پلي کېدو کې مرسته کوي. د دغو زده کړو له لارې ښځې کولی شي، د خپلې، خپلې کورنۍ او ټولنې روغتيا کې کومک وکړي او د اسلامي ټولنې په پرمختګ کې رول ولري.

## د ښځو په ځان‌باورۍ او آزادۍ کې د معاصرو علومو د زده‌کړې اغېز

په ټوله کې، ښځې د معاصرو علومو په یادولو سره، د لا عادلانه، نوښت‌گرو او دوامداره ټولنو په رامنځ‌ته کولو کې مرسته کوي، او د پېچلیو نړۍ‌والو جنجالونو په حل کې حیاتي رول تر سره کوي.



### مالي مدیریت او کارآفریني

په مالي مدیریت او کارآفرینۍ پورې اړوندو زده‌کړو، ښځو ته دغه فرصت ورکړی دی، چې په بېلابېلو برخو کې بریالي کاروبارونه جوړ کړي. هغه ښځې چې د مالي مدیریت او حساب‌دارۍ په دورو کې یې زده‌کړې کړې دي، توانېدلې دي، په اغېزناک ډول خپل کارونه مدیریت کړي او دوام‌داره گټې تر لاسه کړي. دغو زده‌کړو ښځو ته دغه امکان ورکړی دی، چې په ټولنو او کورنیو کې په مهمو پرېکړه‌نیوونکو باندې بدلې شي.

اقتصاد او سوداگرۍ ښځو ته نه یواځې نوې کاري موقعې وړاندې کوي؛ بلکې هغوی ته دغه وړتیا ورکوي، چې په خپل هېواد کې د اقتصادي مشرانو په توگه وپېژندل شي، دغه مهارتونه هغوی ته دا موقعه ورکوي، چې د هېواد په اقتصادي پرمختگ کې مرسته وکړي او په ټولنې کې د بدلانه د عاملینو په توگه وپېژندل شي.

## د معاصرو علومو د زده‌کړې او د ښځو د روغتیايي او ټولنیز وضعیت د ښه‌والي اړیکه

طبي زده‌کړو ښځو دا وړتیا ورکړې ده، چې د هېواد په روغتونونو او صحي مرکزونو کې د ډاکټرانو او د عمومي روغتیا د متخصصانو په توگه، روغتیايي پالنې وکړي. دغه زده کړې نه یوازې هغوی ته د پیسو گټلو او مالي خپل‌واکۍ فرصت برابروي، بلکې هغوی ته دا وړتیا ورکوي، چې په ټولنې کې د ټولنیزو او انساني مشرانو په توگه وپېژندل شي.

د ښځو لپاره د طبي زده‌کړو ارزښت یواځې د هغوی په مسلکي او مالي گټو پورې نه محدودېږي، طبي زده‌کړې په ذاتي توگه ښځو دا موقعه ورکوي، چې د نورو د ځانونو ژغورلو او د ژوند دکیفیت ښه‌والي ته یې پام وکړي. د ښځو لپاره طب پورې اړوندې زده‌کړې، ټولنې ته د روغتیايي کومکونو په وړاندې کولو او د عمومي روغتیا د وضیعت په ښه‌والي کې د ځواکمنېدو په معنیٰ دي.

**حامله‌گي او جنسي روغتیا:** په اسلام کې د حامله‌گۍ روغتیا او جنسي مسایل تایید شوي دي او ښځې د معاصرو زده‌کړو له لارې په دې برخې کې گټور معلومات تر لاسه کولی شي. دغه معلومات د ښځو او د دوی د کورنیو د روغتیا د وضیعت په ښه‌والي کې مرسته کولی شي.

## په سیاسي او ټولنیزو پرېکړه نیونو کې د ښځو پر گډون د معاصرو علومو د زده‌کړې اغېز

پر مسلکي او اقتصادي لاسته‌راوړنو سربېره، معاصرو زده‌کړو ښځو ته دا وړتیا ورکړې، چې لا ډېرې خودآگاهي او انساني ارزښتونو ته ځان ورسوي، د ساینس، ټېکنالوژۍ، انجینرۍ، اقتصاد، سوداگرۍ او

طب غونډې ډگرونه، ښځو ته نه یوازې نوي کاري فرصتونه برابروي، بلکې هغوی ته دا وړتیا ورکوي، چې خپل شخصیت او هویت راجوړ کړي او په ټولنې کې خوځنده سیاسي گډون ولري او کولی شي، د نورو ښځو په نمایندگۍ آن دفاع او مبارزه وکړي او خبرې غبرگې کړي.
د مسلکې زده‌کړې پلانونو، پر علمي مهارتونو؛ لکه د کمپیوټر او کارآفرینۍ پوهې باندې، د ښځو په سمبالولو کې مهم رول ادا کړ، دغو مهارتونو ښځو ته دغه وس ورکاوه، چې پرځان بسیا شي او له غریبۍ څخه د وتلو او د اقتصادي خپلواکۍ د ترلاسه کولو لپاره لاره پیدا کړي.

## د معاصرو علومو زده‌کړه څنگه د ملتونو تر منځ جنسیتي خنډونه راکمولی شي؟

**زده‌کړې او له ښځو سره د تاوتریخوالي کمول:** څېړنو ښودلې ده، چې د ښځو د زده‌کړې د کچې لوړېدل، د کورنیو تاوتریخوالیو او جنسیتي کینو په کم‌والي کې مرسته کولی شي. کومو ښځو چې زده‌کړې کړې دي، له خپلو حقونو څخه پر ښې دفاع توانمندې دي او په کورنیو او ټولنیزو پرېکړه نیونو کې خوځنده گډون درلودلی شي.
**د جنسیتي برابرۍ لوړوالی:** ښځې د ساینس او نوې ټېکنالوژۍ په زده‌کولو سره، په علمي، مسلکي او ټولنیزو ډگرونو کې لا زیاته برابري په لاس راوړلی شي. په علومو کې د ښځو شتون، په څېړنو او نوښت کې جنسیتي تعادل پیاوړی کوي. زده‌کړې د ښځو لپاره د فردي پرمختگ تر یوې وسیلې زیاتې دي؛ دغه وسیله د ځپلو پر وړاندې هیله او مقاومت ده.

## د نویو ټېکنالوژیو او ډیجېټل زده‌کړو له لارې د ښځو پیاوړې کول

**ټېکنالوژي او ډیجیټل کارآفریني:** انټرنېټ او نوې ټېکنالوژي د ډیجیټل کارآفرینۍ لپاره زمینه برابره کړې ده. ښځې له دې لارې انلاین کاروبار پیلولی شي او د نړۍ بازارونو ته لاس‌رسی درلودلی شي.
ښځو ته د ساینس او ټېکنالوژۍ ورزده‌کړه، د معلوماتي ټېکنالوژۍ، د معلوماتو د تحلیل او ډیجیټلي نوښت غونډې ډگرونو کې نویو کاري فرصتونو ته د لاس‌رسي وړتیا ورکوي، انټرنېټ او په معلوماتي ټېکنالوژۍ پورې اړوندو زده‌کړو ته لاس‌رسي، ښځو ته دا اجازه ورکړې ده، چې له آنلاین پلاتفورمونو او ډیجیټل کارآفرینۍ څخه، نړۍ‌والو بازارونو ته لاس‌رسی ومومي، د هغو ښځو مثالونه چې د الکټرونیک تجارت د پلاتفورمونو له لارې یې بریالي کاروبارونه پیل کړي دي؛ څرگندوي، چې ساینس او علمي زده‌کړې د هغوی په پیاوړي کولو کې مرسته کړې ده.

## د معاصرو علومو زده‌کړه څنگه په ښځو کې د خلاقیت او نوښت په ډېرېدا کې مرسته کوي؟

د خلاقیت او نوښت ډېرېدا: ښځې له خپلو متفاوتو او ځانگړو نظرونو سره په علمي او ټېکنالوژي ډگرونو کې د نوښت او خلاقیت له ډېرېدا سره مرسته کولی شي او د علمي پرمختگ لپاره نوې لیدلوري پرانیستلی شي.له شک پرته، ښځې ډېرې نوښتگرې دي او ډېرو وړو او تنکیو ټکیو ته یې پام کېږي او د هېواد او خلکو لپاره ډېر نوښتونه کولی شي.

## پایله

له فرهنگي، دیني، فلسفي، علمي او ټولنیز لوري، ښځو ته د معاصرو علومو ورزده‌کړې، د هغوی د پیاوړي کولو او د مقام په لوړولو کې یې، د یوې اغېزناکې وسیلې په توگه کار کړی دی.تاریخ، فلسفي افکار، دیني عالمان او علمي څېړنې ښیي، چې زده‌کړې ښځو ته په ټولنې کې د آزادۍ، برابرۍ او فعال گډون لوري ته لارښوونه کولی شي.
د اسلامي شریعت له نظره، د علم زده کړه نه یوازې د ښځو لپاره روا بلکې سپارښتنه هم پرې شوې.معاصر علوم د ښځو په پیاوړي کولو کې د یوې اغېزناکې وسیلې په توگه، له اسلامي اصولو او بنسټونو سره پوره سر خوري، ښځې د معاصرو علومو له لارې خپل شرعي حقوق تر لاسه کولی شي، ټولنه کې گډون کولی شي، خپله روغتیا ساتلی شي او د حلالې گټې په لارې تلی شي.له دې لوري، له معاصرو علومو گټه اخیستنه د ښځو د وضیعت د لوړاوي لپاره له اسلامي نظره نه یوازې اړینه بلکې د تایید وړ ده.
د دغو زده‌کړو اهمیت یوازې د هغو په مالي او مسلکي لاسته راوړنو کې نه دی، بلکې د دغو ډگرونو په علمي او فني محتوا کې نغښتی دی، چې ښځو ته دا وړتیا ورکوي، چې نوښت، خلاقیت او د مسایلو په تحقیق بوختې شي.
ښځو له ټولو ننگونو سره سره، موندلې ده، چې زده‌کړه د برابرۍ او پرمختگ لپاره په مبارزې کې، د دوی قوي وسله ده.دغه، هماغه دلیل دی، چې له ټولو ننگونو سره سره، معاصرې زده‌کړې هماغسې د ښځو د پیاوړي کولو کیلي ده، څه نن او څه په راتلونکي کې.

## مأخذونه


• Abbas, J. (2009), Islamic perspectives on leadership: A model. International Journal of Islamic and Middle Eastern Finance and Management, 2(2), 160–180.

• Ahmed, L. (1992), Women and Gender in Islam: Historical Roots of a Modern Debate, Yale: New Haven, CT.

• Jawad, S. (2010), An historical perspective on Islamic modesty and its implications for female employment. Equality, Diversity and Inclusion: An International Journal, 29(2), 150–166.

• Jouharah M. (2017), Women and leadership: Challenges and opportunities in Saudi higher education. Career Development International, 22(2), 165–183.

• صحیح البخاري.(برېښنایي نسخه)

• رضایي، ناهید.(نقش زنان در توسعه اقتصادي از منظر اسلام): مجله، زن در فرهنگ و هنر

• جوادي، محمد جعفر.(اقتصاد خانواده از دیگاه اسلام)



# په اسلام کې د ښځو اقتصادي پیاوړتیا

ستوری افغان



## لنډیز

په اسلام کې د ښځو د اقتصادي خپلواکۍ تر ټولو لوی دلیل دا دی، چې ښځې په‌خپله یو خپلواک وجودي حیثیت لري؛ پرته له دې چې د چا مور او چا خور وي. دوی ته اسلام ګڼ شمېر اقتصادي حقونه، لکه د ملکیت حق، د میراث حق او د نورو اقتصادي او کاروباري فعالیتونو د ترسراوي حقوق ورکړي. د اسلام د کار د اصولو مطابق ښځې د دوی طبیعي مزیت ته په کتو د کور دننه چارې او نارینه د کور بهر چارې ترسره کوي. د یادولو وړ ده، چې دا شرایط په عادي حالت کې د اجرا وړ دي او په ځانګړو وختونو کې دوی کولی شي، چې یو د بل مسوولیت واخلي. په اسلام کې یوه ښځه اړه نه‌ده، چې د ځان او کورنۍ لپاره لګښتونه وکړي؛ ځکه د ښځو اقتصادي ملاتړ له واده مخکې د پلار او له واده وروسته د مېړه په غاړه دی. د دې دوو په نه‌شتون کې د کور نږدې غړي، یا بالاخره دولت د دوی مصارف باید په غاړه واخلي. پوښتنه دا ده، چې ښځې په هغه آندازه مال باندې څه وکړي، چې له پلار او مېړه څخه ورته په میراث رسېدلی وي؟ آیا ښځې په اسلام کې د اقتصادي فعالیتونو، لکه سوداګرۍ ترسره کولو اجازه لري؟



### کلیدي ټکي

ښځې او اسلام؛

د ښځو اقتصادي

پیاوړتیا؛

د ښځو د میراث،

ملکیت او مَهر حق.

## اسلام، اقتصاد او ښځې

له اقتصادي اړخه د ښځو پیاوړتیا په نورو برخو کې د ښځو د پیاوړتیا په څېر د بحث وړ موضوع ده. په اسلام کې د ښځو او نارینه‌وو اقتصادي حقوق شدیداً د کار حقوقو د اصولو په واسطه اداره کېږي. په شواهدو سره دا په ثبوت رسېدلې، چې ښځې او نارینه له فیزیکي او رواني اړخه سره مساوي نه‌دي؛ نه یوازې انسانان، بلکې زموږ په چاپېریال کې اکثره موجودات له دې څخه مستثناء نه‌دي. دا چې نارینه له فیزیکي لحاظه غښتلي دي او رواني جوړښت یې د کور رهبرۍ ته جوړ دی او په ښځه کې عاطفي بُعد غښتلی دی؛ نو د کور داخلي چارې غوره سمبالوی شي. یوه برتري، چې ښځې یې د نارینه‌وو په پرتله لري، هغه دا ده، چې دوی په ژوند کې د مالي لګښتونو مسوولیت نه‌لري او تر څنګ یې د ملکیت او میراث حقوق لري. دا خبره باید واضح شي، چې دا د کار شرایط په عادي حالاتو کې له ځانګړو حالاتو سره توپیر کوي، په اسلام کې ښځه اقتصادي - ټولنیزو چارو کې ګډون کولی شي. د اصحابو

کرامو ښځو به له خپلو خاوندانو سره په کرنه کې مرستې کولې.(بخاري، حدیث نمبر ۵۲۲۴)
دې ته ورته نارینه هم د کور کارونه کولی شي. ډېر داسې روایتونه شته دي، چې رسول(ص) به د کور په کارونو کې مرسته کوله، لکه د غنمو اوړه کول، د کمیس ګنډل، یا هم د شیدو لوشل.

## په اسلام کې د ښځو د ملکیت حق

اسلام د ښځو د پیاوړتیا لپاره، په ځانګړې توګه د اقتصاد په برخه کې، سره له دې چې د ژوند د اړتیاوو د پوره کولو مسوولیت یې د هغو د خپلوانو په غاړه اېښی، بیا هم هغوی ته د شتمنۍ د ساتلو، زیاتولو، وقف کولو او په اجاره ورکولو حق ورکوي. ښځې خپلواکه شتمنۍ لري او د هغې خاوند د هغې په شتمنۍ کې هېڅ صلاحیت نهلري. د زکات ورکړه، له غریبانو سره مرسته، د ټولنې په خیریه چارو کې ونډه اخیستل، د کفارې اداینه د نارینهوو په شان د ښځو جلا مسوولیتونه دي، چې دا په اسلام کې د ښځو د اقتصادي خپلواکۍ ښودنه کوي. دا چې اوس په اسلامي هېوادونو کې ښځو ته د ملکیت حقوق نه ورکول کیږي، دا د دوی خپلې کلتوري ستونزې او له اسلام څخه ناسم تعبیر دی، چې د ښځو مالي صلاحیتونه یې سلب کړي دي. په اسلامي هېوادونو کې د شرعي قوانینو نهتطبیق د ښځو د ملکیت په ترلاسه کولو کې بل خنډ بللی شو.

## مَهر د ښځې بل مالي حق

له واده سره سم د ښځې د لګښتونو د مسوولیت بار، چې د پلار په غاړه وو، یوه بل خوندي لوري ته د مَهر په ورکړې سره بدلیږي.
د ټولو لګښتونو له تمویل سره سره ښځې ته د مَهر ورکړه په اسلام کې د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا لپاره یو بل لوی دلیل دی. په مَهر سره یوه ښځه هر ډول کاروبار کولی شي. د مَهر اندازه په اسلام کې د خاوند د توان او د ښځې په ټولنیز موقف پورې اړه لري، کېدی شي دا مقدار زیات وي، یا هم کم وي. تاسې که چېرته د مَهر د ورکړې فقهي اصولو ته متوجه شئ، وبه ګورئ چې اسلام د مالي حالـت اړونـد



څومره ځیرکه برنامه جوړه کړې ده. په قرآن کریم کې به ډېر داسې آیتونه ولولې، چې مَهر د کورنۍ او د خاوند له مداخلې پرته د ښځې اصلي حق دی. ټول فقها په دې نظر دي، که چېرته د خاوند له لوري د واده په وخت کې ښځې ته مَهر ورنه‌کړل شي، هر وخت هماغه مقدار غوښتلی شي، حتیٰ قاضي ته د شکایت حق هم لري.(اصلاحي،۲۰۱۰، ص.۱۱)

## په میراث کې د ښځو حق

یوه بله لاره، چې اسلام یې د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا لپاره لري، هغه په شتمنیو کې د میراث حق دی. د جاهلیت د دورې په خلاف، چې فکر کېدو ښځه کورنۍ ته عاید راوړونکې غړې نه‌ده؛ نو د میراث حق نه‌لري، حتیٰ خپله ښځې ته د میراث په سترګه کتل کېدل. اسلام راغی، حق یې ورکړ.(سیوتي،۲۰۰۳، ۴:۲۸۶)

د میراث د حق په ورکړې سره د ښځو ټولنیز موقف لوړ شو او د دوی اقتصادي ترلتیا ورسره کمه شوه؛ خو افسوس چې په دې نوې عصر کې د افغانستان په ګډون ګڼو اسلامي هېوادونو کې د ښځو د میراث حق نه ورکول کېږي، چې همدا د ښځو د اوزګارتیا او د هغوی د فقر عمده دلیل دی او دا هر څه د دې لامل کېږي، چې په ټولنه کې داسې ذهنیت رامنځ‌ته کړي، چې ښځه د یوه مال په ډول باندې معرفي کــــړي؛





میراث هم مال او ښځه هم مال؛ نو ځيني مال د ځيني مال برخه نه‌شي کېدلی. په افغانستان کې حاکم شرايط او کلتور لا د دې اجازه هم نه ورکوي، چې خور او لور دې د خپل میراث او په حق کې د خپلې برخې غوښتنه وکړي؛ دا دوې وجې لري؛

**الف.** ښځې په دې نه پوهېږي، چې دوی هم لکه د سړیو په ډول په میراث کې حق لري؛ که څه هم د دوو ښځو د میراث حق لکه د یوه سړي د برخې په اندازه دی.

**ب.** کومې ښځې چې په دې پوهېږي، چې اسلام ورته د میراث حق ورکړی دی، هغوی د ټولنیزو محدودیتونو له امله نه‌شي کولی، چې د خپل حق غوښتنه وکړي.

په افغانستان کې باید لکه په ایران کې چې د ښځو د میراث قوانین د دولت له خوا جدي څارل کېږي، وڅارل شي. دې سره به د ښځو پر وړاندې مالي - تبعیضي چلندونه محوه شي او په ټولنه کې به د ښځو اقتصادي رول تقویه شي. د میراث د قوانینو په پلي کېدو سره د ښځو اقتصادي حالت د نارینه‌وو په پرتله ښه کېږي.

**زه تاسې ته یوه بېلګه وړاندې کوم؛**

فرض کړئ، یو نفر مړ شو (خدای دې وبښې!) او ۴۵،۰۰۰ افغانۍ یې میراث پرېښودلې. د هغه وارثین مجرد زوی او لور دي. د فقهې په اساس هلک ۳۰،۰۰۰ او نجلۍ ۱۵،۰۰۰ افغانۍ ترلاسه کوي. په نږدې وخت کې دوی واده کوي او د وخت مَهر ۲۰،۰۰۰ افغانۍ دی؛ یعني نجلۍ ۲۰،۰۰۰ له خپل خاوند څخه مَهر اخلي او هلک خپلې کوژدنې ته ۲۰،۰۰۰ مَهر ورکوي. اوس د متوفیٰ د لور سرمایه ۳۵،۰۰۰ ته لوړه او د متوفیٰ د زوی سرمایه ۱۰،۰۰۰ ټیټه شوه، د کور لګښتونه خو په‌خپل ځای پرېږده.

## د ښځو د کار حق

اسلام ښځو ته د کار د اجازې په ورکولو سره په ټولنه کې د ښځو اقتصادي موقعیت ځواکمن کړ. په قرآن کې دا په جلا توګه ویل شوي دي، چې هغه څه چې ښځه تر لاسه کوي، د هغې دي او هغه څه چې نارینه تر لاسه کوي، د هغه دي. (قرآن،۴:۳۳)

په یاد ولرئ، یوه مسلمانه ښځه، کله چې عاید ولري، د کورنۍ د مصارفو مسوولیت نه‌لري، هر څنګه چې یې غواړي، په لګښت یې رسولی شي؛ خو تاسې یو نارینه وګورئ، چې هغه د کورنۍ د ساتنې وجیبه لري. که فکر وکړو او پرته له وېرې ووایو؛ نو ناسمه به نه وي، چې د اسلام د اقتصادي پیاوړتیا لارښوونې په شدت سره د ښځو په خوا دي؛ نو څنګه یو څوک له دغو څرګندو لارښوونو سره سره په اسلام کې د ښځو په حقوقو نیوکه کوي؟

په اسلام کې د کار په ساحه کې هر ډول جنسيتي تبعيض منعه دی. کله چې مُزد ټاکل کېږي، د ښځو او نارينه‌وو تر منځ په عدالت ټينګار شوی. په اسلام کې د ضرورت په وخت کې د ښځو لپاره د باندې کار کول هېڅ شرعي ممنوعيت نه‌لري؛ خو له نارينه‌وو سره اختلاط بيا شرعاً جواز نه‌لري.

په اقتصادي فعاليتونو کې د ښځو ګډون له ضرورتونو څخه دی؛ ځکه دا ښځې پياوړې کوي او د ښځو پياوړتيا په اسلام کې جواز لري. که موږ د رسول(ص) دور او صدر اسلام ته نظر وکړو، هلته داسې ښځې وې، چې په اقتصادي چارو کې بوختې وې، عايد يې لاره او دا عايد يې د کورنۍ د مصارفو په پوره کولو کې په لګښت رساوه. لکه ام‌المؤمنين خديجة الکبریٰ له اسلام څخه مخکې يو نړۍوال تجارت لاره، چې وروسته له اسلام څخه يې هم دوام ورکړ.(ابن کثير)

دا هماغه خديجه ده، چې په وفات سره يې رسول(ص) هماغه کال «د غم کال» په نامه سره ونوماوه.

قله العموريه يوه سوداګره وه، چې يوه ورځ يې له رسول(ص) څخه په پېر او پلور کې د چانه وهنې اړوند پوښتنه هم وکړه. (ابن اثير)

الربيعي بنت المعوذ هم په مدينه کې د عطرو په سوداګرۍ بوخته وه.(ابن عبد البر، ۲۰۰۲، ص.۳۹۶)

حولا هم د عطرو سوداګره وه، چې په عطاره (عطر خرڅونکې)باندې مشوره وه. ام‌المؤمنين الزينب بنت جحش هم يوه د لاسي صنايو سوداګره وه. هغې به کار کاوه او عايد به يې د خدای تعالیٰ په لار کې مصرفاوه، په داسې حال کې چې شخصي مصارفو لپاره يې کار ته اړتيا نه‌لرله.

د ابن المسعود انصاري مېرمن زينب هم په لاسي صنايعو کې ماهره وه. هغې بيا عايد خپلې کورنۍ باندې مصرفاوه؛ ځکه خاوند يې د کور په لګښتونو نه و بر.

که د اسلام تاريخ ته نظر وکړو، د جګړې په ميدان کې به د ښځو مېړانې ډېرې پيدا کړو، لکه د جنګ په ميدان کې د نرسنګ، اوبه رسول، اکمالات رسول، حتیٰ دوی به په غنيمت کې ونډه تر لاسه کوله.(واقدي،۱۹۶۶،مخ ۶۸۵)

تاسې پوهېږئ، چې د خيبر په جنګ کې له مسلمانانو سره شل ښځې وې.

له ماشومانو څخه ساتنه او شيدې ورکول هم د هغه وخت ښځو لپاره مشهوره دنده وه. تاسې ته معلومه ده، چې له طايف څخه به ښځې مکې ته راتلې، چې له ډلې يې حليمه سعديه هم وه، چې ماشومان ځان ته پيدا کړي او د مُزد په بدل کې شيدې ورکړي.

له جابر بن عبدالله څخه روايت دی، چې رسول(ص) خپلې خاله ته اجازه ورکړه، چې د خرما په باغ کې کار وکړي. (قشيري)

اسماء بنت ابوبکر له خپل خاوند زبير بن العوام سره په کرنه کې مرسته کوله. د اسلام په دې عصر کې له بيت‌المال څخه پور ترلاسه کول د ښځو او نارينه‌وو لپاره عام و. هنده د سفيان(رض) مېرمنې يو ځلې تجارت لپاره ۴۰۰۰ درهم پور واخيست.(التباري،۱۴۰۷ه، مخ. ۵۷۶-۵۷۷)

اوس وخت کې دولتونه او يا مرستندويه اداري که ښځو ته د پور ورکولو بې‌سوده خدمات وړاندې کړي، د ښځو اقتصادي توانايي ورسره ډېره لوړه ځي.

د پورتنيو مثالونو تعداد بې‌نهايت زيات دی، چې دا ښايي، چې د اسلام په اولو کې ښځو په مختلفو اقتصادي فعاليتونو کې ګډون درلود. هغوی شرايطو ته په کتو فردي تصميم نيولی شو، چې آيا په کور کې پاتې شي؟ که د باندې کار وکړي؟ البته د باندې کار کول بايد کاملاً د شرعي احکامو تر چتر لاندې وي.

په عصري دور کې هم ښځو په اسلامي هېوادونو کې په لوړو پوستونو دندې ترسره کړې دي. لکه بې‌نظير بوټو د پاکستان لومړۍ وزيره، خالده ضيا د بنګله‌دېش لومړۍ وزيره، تنسو سيلر د تورکيې لومړۍ وزيره، ميګاوتي سوکارنوپوتري د اندونيزيا ولسمشره، ډاکټره زيتي اختر عزيز د نايجيريا د مرکزي بانک رييسه، ډاکټره شمشاد اختر د پاکستان مرکزي بانک رييسه.

د عثمانيانو په آمپراتورۍ کې د سلطانانو شاوخوا مېرمنو خپله خپله اردو لرله او حتیٰ لوی لوی ښارونه او ولايتونه به يې له ډېرو زياتو عوايدو سره يو ځای په لاس کې لرل؛ دا خبره ابن بطوطه په‌خپل کتاب کې کوي.

افغانستان کې هم ښځو د تاريخ په اوږدو کې په لوړو پوستونو دندې تر سره کړې دي؛ لکه د سلطان محمود غازي خور محموده غازي د وخت سياسي ځواک څخه برخمنه وه، ثريا طرزي د غازي امان الله مېرمنه وه، هغه د

افغانستان د ملکې په توګه د خپل وخت په سیاسي جریان کې د ښځو د حقوقو مدافع وه. مسعوده جلال هغه لومړۍ ښځه وه، چې په ۲۰۰۴م کال ټاکنو کې یې ځان ولسمشرۍ ته نوماند کړی و. حبیبه سرابي له ۲۰۰۵م څخه تر ۲۰۱۳م پورې د لومړۍ ښځینه والي په توګه په بامیان ولایت کې دنده ترسره کړه. لیلوما عثماني هغه له ۲۰۰۴م څخه تر ۲۰۰۶م پورې د افغانستان د هلمند ښځینه والي وه. نظیفه یوسفي بک له ۲۰۱۸م تر ۲۰۲۱م کال پورې د سمنګان ښځینه والي وه. په افغانستان کې په تېرو آخرو کلنو کې د ښځو د فعالیت لپاره بستر برابر وو.

## له طلاق څخه وروسته د ښځو اقتصادي پیاوړتیا

په اسلام کې تر ټولو بد حلال څیز طلاق دی، چې طلاق سره د کورنۍ ټول سېستم له منځه ځي او ښځې شدیداً له دې څخه اغېزمنې کېږي. اسلام د دې لپاره، چې په دې مرحله کې ښځې له اقتصادي ستونزو سره مخ نه‌شي، ځینې اصول لري؛

۱. ښځو ته توصیه کېږي، چې یو مقدار پیسې دې حالت ته وساتي، هغه یې که د کاروبار له لارې ترلاسه کړې وي، یا هم له مَهَر څخه. په دې پیسو کې د هغې خاوند هېڅ حق نه‌لري او نه هم کولی شي، چې مېرمنې ته ورکړل شوی مَهر او ډالۍ بېرته ترې واخلي.

۲. طلاق شوې ښځې د عدت تر پوره کېدو پورې د خاوند په کور کې د اوسېدو حق لري او خاوند یې باید ټول مصارف په غاړه واخلي.

۳. که طلاق شوې ښځه ماشوم ته شیدې ورکوي، د ماشوم پلار باید هغې ته پیسې ورکړي.

د دې ټولو اقداماتو موخه او اهمیت دا دی، چې ښځو ته مالي امنیت او پر ځان تکیه ورته برابره کړي. اسلام د دې لپاره، چې ښځې له طلاق وروسته له سختو شرایطو سره مخ نه‌شي، دا لارښوونې وړاندې کوي او په پلې کولو یې ټینګار کوي، چې تر طلاق وروسته د دوی اقتصادي پیاوړتیا یقیني کړي.

## واده او د ښځو اقتصادي پیاوړتیا

مخکې مو وویل چې څنګه د یوې ښځې له واده وروسته مالي حالت د مَهر په اخیستلو سره ښه کېږي، سره له دې چې د ژوند لګښتونه یې ټول د خاوند په اوږو دي. که وګورو او پایله واخلو په اسلام کې واده کول د ښځو د اقتصادي پیاوړتیا لپاره یو غوره وړاندیز دی. د قرآن په سورت النور ۳۲ آیت کې الله تعالیٰ د کونډو د ودونو د تنظیم خبره کوي او همدارنګه د نارینه او ښځینه غلامانو لپاره، چې واده ته مناسب وي، یادونه کوي؛ په همدې آیت کې د هغو کسانو، چې اقتصادي وضعیت یې بد وي، خدای تعالیٰ په واده کولو سره هغوی ته د ژوند د پراخی وعده ورکوي. تاسو به هغه مشهور حدیث اورېدلی وي، چې ښځې د څلورو ځانګړنو (شتمنی، نسب، ښکلا، دینداری) په نظر کې نیولو سره په نکاح کېږي؛ خو ته له دینداري سره نکاح وکړه. په دې حدیث کې تاسې ګورئ، چې اسلام په دین باندې پابندۍ ته څومره زیات ارزښت ورکوي؛ خو په ورته وخت کې له دې حدیث څخه دا هم معلومېږي، چې یو کس باید له یوې بې‌وزلې؛ خو تقوادارې سره واده وکړي، چې د هغې اقتصادي ملاتړ وشي.

## ځينې نور اقدامات

مخکې مو وويل، پرته له شکه د يوې ښځې اقتصادي ملاتړ د هغې د پلار او وروسته له واده د هغې د خاوند په غاړه دی. د دوی د نه‌شتون په صورت کې د هغوی خپلوان دا مسوولیت اداء کوي. که دا ټول پاتې راغلل، دولت باید د ښځو په اقتصادي پیاوړتیا کې خپل رول ولوبوي. دا نه چې یوازې له بې‌وزلو سره مرسته وکړي، بلکې د ښځینه تصدي فعالیتونو پیل لپاره د دوی مالي ملاتړ وکړي. لکه مخکې مو چې د هنده بنت اوتبا په کیسه کې وویل. په اسلامي ټولنو کې ډېرې داسې چارې شته، چې دا موخه ترلاسه شي، لکه زکات او صدقات. زموږ په ټولنه کې د زکات پیسې په ډېرو خلکو وېشل کېږي، چې د زکات اخیستونکي د یوې میاشتې لګښت پوره کوي، که چېرته لکه له عمر (رض) څخه چې روایت دی، زکات اخیستونکی به شتمن کړو، چې د تل لپاره له فقر ووځي؛ دا به ټولنې ډېرې له اقتصادي پلوه ورغوي.

که د اسلام تاریخ ته وګورو، وقف د ښځو مالي مرستې لپاره ځانګړی شوی و. ځینو شتمنو ښځو د رسول (ص) د مېرمنو په ګډون وقف تر سره کاوه. په اصل کې د اسلام په ډېرو دورو کې د وقف صندقونو موجود وو، چې اکثره د ښځو لپاره وو. یوه ښځه کولی شي له وقفونو څخه څارنه وکړي. حَفصَه د حضرت عمر (رض) له وقف څخه ساتنه کوله. په ۱٦مې پېړۍ کې اکثرو ښځو دا دنده ترسره کوله. (الظواهري، ۱۹۹۲، ص. ۲۴۳)

ښکاره خبره ده، چې نارینه د ښځې دوه برابره میراث اخلي؛ خو که وقف موجود وي، هغه په کامل عدالت سره باید پلی شي. بناً د وقف په واسطه د اسلام په تېر تاریخ کې ښځې له اقتصادي لحاظه پیاوړې کېدې او پراخ استعمال یې لاره او ښځو به د نورو ښځو پیاوړتیا لپاره له وقف کار اخیست.

## پایله

په اسلام کې د ښځو د اقتصادي پياوړتيا يو ستر دليل دا دی، چې اسلام ښځو ته د خپلواک شخصيت قايل دی، پرته له دې چې د چا خور وي، مور وي، ښځه وي؛ ځکه هغه څوک چې خپلواک نه وي، څنګه څواکمن کېدی شي؟ سره له دې چې اسلام يې د ضرورتونو پوره کول د پلار، خاوند، خپلوان او دولت باندې ايښې؛ خو بيا هم د ملکيت، ميراث او ورته نور حقوق د ژوند په ټولو مرحلو کې ورکړي. د دې ټولو تر څنګ اسلام ښځو ته د کار اجازه ورکړې او د عايد د مصرف کولو پوره اختيار لري.

مسلماني ښځې په دې باور دي، چې د کور مديريت او د ماشومانو روزل، سره له دې چې اُخروي ګټې لري، له پېچلو اقتصادي فعاليتونو څخه کم دي؛ ځکه خو په عموم کې په دوی کې د بېروني کارونو تر سره کولو ميلان کم دی. د کورنۍ له خوا دوی ته د احترام کولو او ميني ورکولو سره د پيسو ګټلو پر ځای کورنيو چارو تر سره کولو ته ارزښت ورکوي. په‌کار دا ده، چې موږ د اجازې او مکلفيت او د حق او مسووليت تر منځ توپير وکړو. نهايتاً که دې ته پاملرنه وکړو، چې اسلام ټول اقتصادي حقوق، مالي تضمينات، د اړتياوو د پوره کولو تضمينات د ژوند په ټولو پړاونو کې مخکې له واده، يا وروسته له واده او له خاونده د بېلېدو په وخت کې تامين کړي دي، چې فکر کېږي اسلام ښځو ته فوق‌العاده مالي آسانتياوې برابرې کړې دي؛ خو دا هم يو حقيقت دی، چې په ډېرو اسلامي هېوادونو کې ښځې له فعاليت څخه منعه دي او دوی حق نه‌لري، چې کار وکړي او پيسې وګټي او تاريخ به دا هم وليکي، چې په افغانستان کې يو نظام د ښځو د تعليم او کار کولو تر ټولو سخت مخالف و. په ډېرو اسلامي هېوادنو کې ښځې د ملکيت له حق څخه محرومې دي، دوی ته په سختۍ سره په ميراث کې خپلې ونډې ورکول کېږي.

په ډېرې حيرانتيا سره به ووينې، چې د اسلامي نړۍ په ډېرو برخو کې د اسلامي تعليماتو برعکس کړنې کوي. د مَهر په برخه کې، چې مَهر يواځې د نجلۍ حق دی، بلکې د هغې کورنۍ هم په‌کې ځان ښکېلوي.

نجونې پرته له دې، چې خپل مَهر وټاکي، د حيوان په شکل پلورل کېږي.

د مسلمانانو دا غير اسلامي کړنې د اسلامي لارښوونو او د مسلمانانو د عمل تر منځ واټن راښيي. کاش د دوی کړنو يواځې دوی ته زيان رسولی؛ خو افسوس! مسلمانې مېرمنې د دنيا شا ته پاتې او مظلومې مېرمنې بلل کېږي او اسلام د دوی جاهلانه کړنو له امله د ملحدينو له بې‌ادبانه پوښتنو سره مخ کېږي. د مسلمانانو دا ناوړه شرايط يواځې د تقوا، روښان‌فکرۍ، اخلاص او د تعليم او تعليم او تعليم په واسطه ماتېږي.

## مأخذونه


۱. البغاوي،حسين، بن مسعود(۱۹۸۳)الشرح السنن، بيروت او دمشق: المکتب اسلامي.

۲. محمود،عاطفه،(۲۰۱۸) د اسلام لارښوونې او د ښځو اقتصادي پياوړتيا.

3. El-Zawahreh, Taisir Khalil Muhammad (1995), Religious Endowments and Social
Life in the Ottoman Province of Damascus in the Sixteenth and Seventeenth Centuries, Karak (Jordan): Mutah University.

4. Subhani, M. Inayatullah Asad (2011), "Nizam al-mirath fi'l-Qur'an" in Ausaf Ahmad and Abdul Azim Islahi (ed.), Ma'ashi Masa'il aur Qurani Talimat (Economic Problems and Qur'anic Teachings), Aligarh: Idarah Ulum al-Quran, pp. 200–254.

5. Nadwi, Raziul Islam (2011), "Islami Nizam-e warasat mein aurat ka hissah (Woman's share in Islamic inheritance system)" in Ausaf Ahmad and Abdul Azim Islahi (eds.). Ma'ashi Masa'il aur Qurani Talimat (Economic Problems and Qur'anic Teachings), Aligarh: Idarah Ulum al-Quran, pp. 199–200.

6. United Nations Development Program(2018) (Gender equality and women's empowerment in Islamic texts)




# د افغان ښځو سل کلنه مبارزه

**«د هغه وخت په دولتونو کې د حقونو د ترلاسه کولو لپاره مبارزه او د دولتونو پالیسۍ»**

نسیم احمدي

**لنډیز**

دا مقاله د افغانو ښځو پر برابرو حقونو، ننګونو او لاسته‌راوړنو باندې د برلاسی له‌پاره، په سل کلنې مبارزې او د افغانستان د دولتونو پر مختلفو سیاستونو باندې راڅرخي. د امان‌الله خان او ملکې ثریا د شلمې پیړۍ د اوایلو، د لومړنیو اصلاحاتو له دورانه، په ۲۰۲۱ کې د طالبانو بېرته واک ته تر راګرځېدو پورې، افغانې ښځې له سختو فرهنګي او ټولنیزو فشارونو او هم‌دارنګه د پرمختګ او اصلاحاتو له دورو سره مخ وې. په دې مقالې کې، د افغانستان په ټولنې او د دولتونو په کلیدي سیاستونو کې د افغانو ښځو غښتلی رول، له هغوی څخه لکه د محمد داود خان جمهوري دوران، کورنۍ جګړې، د طالبانو څېونکی دوران او واک ته د هغوی بېرته راتګ، تر څېړنه لاندې راځي. هم‌دارنګه د ښځو پر حقونو د ملاتړ لپاره د نړۍ‌والو بنسټونو او نادولتي سازمانونو په هڅو هم غږېږي.




**سریزه**

د حقونو لپاره یې د افغان ښځو مبارزه نه یوازې فردي هڅه، بلکې یو ټولنیز او سیاسي حرکت و، چې د لسیزو په تېرېدو کې له مقاومت او پایه‌دارۍ سره مخ شوې ده، دا مبارزه د وخت په اوږدو کې د مختلفو عواملو، لکه د دولتونو سیاستونه، د نړۍ‌والو بنسټونو رول او ټولنیزو بدلونونو لاندې راغلې ده، افغانستان د تېر یوه کال په اوږدو کې د ډېرو سیاسي، ټولنیزو او اقتصادي تحولاتو شاهد و، چې په دغه هېواد کې یې د ښځو پر وضیعت باندې ډېرې ژورې اغېزې لرلې دي. افغانو ښځو د تاریخ په اوږدو کې، د امان‌الله خان او ملکې ثریا تر لومړنیو اصلاحاتو نه تر ننه، د خپلو حقونو د ترلاسي لپاره مبارزه کړې ده. دغه مبارزې د رنګارنګ سیاسي تحولاتو، لکه جمهوري دولتونو، کمونېستي رژیمونو، کورنیو جګړو او د طالبانو واکمنېدو، تر څنګ مختلفې بڼې ځان‌ته غوره کړې دي. په دې مقالې کې به، د افغان ښځو د مبارزو په هر اړخیزه څېړنه، د

هغوی پر لاسته‌راوړنو او د ښځو پر وضیعت باندې د مختلفو دولتو د سیاستونو پر تاثیر باندې خبرې وشي. د تېرې یوې پېړۍ په اوږدو کې، افغانو ښځو پر برابرو حقونو باندې د ترلاسې لپاره په کوښښ کې، د دغه هېواد په تاریخ کې بنسټي او غښتلی رول تر سره کړی دی. د هغوی مبارزې له ډېرو لوړو ژورو سره مخ وې، او د دولتونو، جنګونو، ټولنیزو او فرهنګي تحولاتو د سیاستونو تر اغېزې لاندې او هم‌دارنګه د ساختاري او فرهنګي موانعو له پرېمانه پېچیلتیاوو سره مخ شوې دي.

## د حقونو د ترلاسي لپاره يې د افغان ښځو سل کاله مبارزه تاریخچه، لاسته‌راوړنې او ګواښ

### د ښځو د مبارزې پیل ( ۱۹۱۹-۱۹۷۳)

د حقونو لپاره يې د افغان ښځو مبارزه د شلمې پېړۍ په لومړیو کې، د امان‌الله خان دورې ته منسوبولی شو. امان‌الله خان د لومړنیو ښځینه ښوونځیو په تاسیس، زده‌کړو او په ټولنیزو ډګرونو کې يې د بوختیا لپاره په تشویق سره د ښځو په حقونو کې سرلاری و. د هغه ښځه، ملکه ثریا، په هغو ښځو کې لومړنۍ وه، چې چابکه په عمومي عرصه کې راښکاره شوه او ښځې يې په ټولنیزو او فرهنګي کړنو کې ګډون ته وهڅولې او هم‌دا رنګه امان‌الله خان په ۱۹۲۳ کال کې اساسي قانون تصویب کړ، چې په هغه کې د ښځو حقونه او آزادۍ تر یوه ځایه په رسمیت وپېژندل شوې وې. هغه هم‌دارنګه د رواجي محدودیتونو د کموالي لپاره، د زوري حجاب دود وننګاوه او له ښځو یې وغوښتل، چې ټولنیز ډګر ته داخلې شي.
په‌دې سره، دغه اصلاحات د مذهبي محافظه‌کارانو او رواج‌پالو له توند مقاومت سره مخ شول، چې په پایله کې، له واکه د امان‌الله خان د لرې کېدو لامل شول. له امان‌الله خانه وروسته، راتلونکیو حکومتونو، تر یوه ځایه اصلاح غوښتونکې کړنې وغځولې. په دې دورې کې، ښځې په تدریج سره د زده‌کړو او کار په برخه کې حاضرې شوې او د ښځو بنسټونه هم راجوړ شول. خو یو برابر حقونو ته د ښځو لاس‌رسی، هماغسې د فرهنګي او ټولنیزو موانعو له وجې، محدود پاتې شو.

## د ظاهر شاه د واکمنۍ دوره (۱۹۳۳-۱۹۷۳)

د محمد ظاهر شا په دوره کې، افغانستان د موډرنېزم او لا نورو ټولنیزو اصلاحاتو په لوري وخوځېد، هر څو که دغه اصلاحات محتاط او تدریجي وو. په دې دوره کې، ښځو په تدریج سره، زده‌کړو ته لاس‌رسی لاره، او د بوختیاوو په مختلفو برخو کې يې، په ځانګړې توګه په زده‌کړو او نرسېنګ کې، ځای پیدا کړی شو. د دې دورې په لاسته‌راوړنو کې یې یوه مهمه هغه، پر ښځو د ملاتړ انجمن جوړېدنه وه، چې د هغه موخه د ښځو د حقوقي او ټولنیز وضیعت ښه‌والی و. په دې دوره کې، ښځو که څه هم د کابل غونډې په لویو ښارونو کې زده‌کړې او کار کاوه؛ خو د هېواد په کلي‌والي او سنتي سیمو کې، تر اوسه هم په ټولنې کې د ښځو پر راوتلو ډېر خنډونه وو. په داسې حال کې، د دغو اصلاحاتو ډېر تمرکز په لویو ښارونو کې و او په کلي‌والي او سنتي سیمو کې تر اوسه ټولنې ته د ښځو فعاله راوتلو ته ډېر خنډونه وو. فرهنګي او ټولنیز محدودیتونه هماغسې د هېواد په لر او بر کې د ښځو پر پرمختګ اغېزمن وو.

## د جمهوریت دوره او د ښځو مبارزې ( ۱۹۷۳-۱۹۹۲)

په ۱۹۷۳ کال کې، د محمد داوود خان د پاچاهي نظام په ړنګولو او د جمهوري دولت په بنسټ سره، د ښځو مبارزې یوه نوي پړاو ته ورګډې شوې. داوود خان د هېواد د موډرنولو په هڅو کې، د ښځو د حقونو په ډګر کې اصلاحي پلانونه را پیل کړل. هغه ښځې په دولت کې ګډون او سیاست کې مشارکت ته تشویق کړې. د محمد داوود خان د حکومت په دوره کې، د ښځو شتون په ټولنې او د پرېکړې نیولو عرصو کې ډېر شو.
په ۱۹۷۹ کال کې د کورنیو جګړو په پیلېدو سره افغانې ښځې له نویو ننګونو سره مخ شوې. که څه هم کمونېستي حکومت د ښځو پر حقونو ملاتړ وراندې کاوه او د زده‌کړې او کار په برخو کې یې دوی شتون ته تشویقولې؛ خو جنګ او سیاسي ناانډولي د دې لامل شول، چې په دغو لاسته‌راوړنو کې یې ډېر له ګواښ سره مخ شي. په دې دورې کې، ښځې په جنګ‌ځپلیو او د جنګ تر نېغ اغېز لاندې سیمو کې، له

تاوتریخوالي او د خپلو حقونو له نقض سره مخ وي.

## د شوروي یرغل او کورنۍ جګړې

په ۱۹۷۹ کال کې د شوروي له یرغل او د کورنیو جګړو له پیلېدو سره، د افغانو ښځو وضیعت په توندۍ سره تر اغېز لاندې راغی. په‌داسې حال کې، چې د شوروي تر ملاتړ لاندې دولت، د ښځو د حقونو لپاره قوانین وضع کړل او ښځې یې د زده‌کړو او کار په برخو کې راتګ ته تشویقولې؛ خو جنګ او سیاسي نارامۍ د دغو اطلاحاتو د بشپړې اجرا مخه ونیوه. ښځې په دې دوره کې له توندو تاوتریخوالیو، ټولنیزې او اقتصادي ناانډولۍ او د افراطي لیدلوریو له زیاتوالي سره مخ شوې، چې د هغوی حقوق یې سخت ورمحدود کړل.

## د طالبانو واکمني او د ښځو ځپل ( ۱۹۹۶-۲۰۰۱)

د ښځو په حقونو کې یوه تر ټولو تیاره دوره، د طالبانو د حکومت دوره وه. په ۱۹۹۶ کال کې پر افغانستان باندې د طالبانو له کابو سره، د ښځو ټول حقوق، لکه د زده‌کړو، کار او ټولنې کې د شتون حق په سختۍ وځپل شو. طالبانو یې له شریعته په سخت‌ګیرانه تفسیر سره، ښځې په عمومي ډګر کې له شتونه منعه کړې او هغوی یې تر کورونو محدودې کړې. دا دوره نه یوازې د افغانو ښځو، بلکې د ټولې ټولنې لپاره یوه ستره بدبختي وه؛ ځکه چې د ټولنې نیم نفوس له خپل لومړني حقه بې‌برخې شو.

## د طالبانو تر سقوط وروسته ( ۲۰۰۱-۲۰۲۱)

په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو تر ځپلو او د نړۍوالې ټولنې تر ملاتړ لاندې د نویو حکومتونو په درېدا سره، افغانې ښځې یو وار بیا ټولنیزې او سیاسي صحنې ته راوګرځېدې. د افغانستان نوي اساسي قانون چې په ۲۰۰۴ کې تصویب شو، د ښځو حقونه په رسمیت وپېژندل او په رنګارنګ ټولنیزو او سیاسي عرصو کې یې د دوی شتون ته قانوني ضمانتونه جوړ کړل. ښځو په آزاده په ټاکنو کې ګډون وکړ، او په هغوی کې یې د پام وړ هغو، پارلمان ته لاره پیدا کړه. په دې دوره کې، د ښځو پر حقونو د ملاتړ لپاره رنګارنګ بنسټونه جوړ شول. د ښځو د چارو وزارت جوړ شو، او د نجونو د زده‌کړو او د کورنیو او ټولنیزو تاوتریخوالیو په وړاندې پر ښځو د ملاتړ لپاره پراخ پلانونه تدوین شول. هم‌داسې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د منعې د قانون غوندې قوانین تصویب شول، چې د هغه موخه پر ښځو د ځاني، جنسي او رواني بدې ګټې اخیستنې پر سر ملاتړ و.

په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو له پرځېدو او د نړۍوالې ټولنې تر ملاتړ لاندې د نوي سیاست د دورې له پیلېدو سره، افغانې ښځې یو وار بیا په خپلو حقونو برلاسې شوې. په ۲۰۰۴ کال کې د افغانستان نوي بنستي قانون ښځو ته قانوني ضمانتونه وړاندې کړل او په سیاسي او ټولنیزو برخو کې یې د دوی



شتون کلک کړ. د ښځو پر حقونو د ملاتړ بنسټونه جوړ شول او ښځو ټاکنو کې برخه واخیستلی شوه، پارلمان ته ولاړې، او په کاري او زده‌کړې په برخو کې یې فعالیت وکړی شو.

تر طالبانو وروسته دولتونو، په ځانګړې توګه د حامد کرزي او اشرف غني حکومتونو، د ښځو د حقونو د بیاوړې کولو لپاره یو څه کوښښونه وکړل. په دغو ګامونو کې، د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي ضد قوانین، نجونو ته د درسي پلانونو پراختیا او د پریکړې نیولو ډګرونو کې د ښځو د حضور تشویق وو. خو له دې سره سره، د فساد، ناامنۍ او ټولنیزو نابرابریو غونډې ستونزې، هماغسې د ښځو د پرمختګ په لارې کې کلک خنډونه بلل کېدل.

## د حامد کرزي حکومت (۲۰۰۴-۲۰۱۴)

د حامد کرزي دولت د ښځو د حقونو د وضیعت د ښه‌والي له‌پاره، د پام وړ کوښښونه وکړل. د کورني تاوتریخوالي ضد قانون تصویب شو، د نجونو لپاره تعلیمي پروګرامونه پراخ شول. په پارلمان او نورو دولتي بنسټونو کې د ښځو حضور زیات شو او ښځو په سیاست او ټولنه کې غښتلي رولونه تر سره کړل.

## د اشرف غني دولت (۲۰۱۴-۲۰۲۱)

د اشرف غني دولت د کرزي د دولت د اصلاح‌غوښتونکو سیاستونو پرمخ‌بیوونکی و. پر ښځو د ملاتړ لپاره اقتصادي او ټولنیز پروګرامونه، لکه د ښځو لپاره د وړو کارونو ایجاد او زده‌کړو ته د لاس‌رسي ډېروالی؛ اجرا شو. هم‌داسې، پر ښځو د ملاتړنې په پروګرامونو کې د فساد د کمښت او روڼتیا د زیاتوالي لپاره کوښښونه وشول.

## د نړۍ‌والو بنسټونو او نادولتي سازمانونو رول

نړۍ‌والو بنسټونو؛ لکه: ملګرو ملتونو او د ملتونو پرمختیایي پروګرام (UNDP) له ځایي نادولتي سازمانونو سره یو ځای، د ښځو پر حقونو په ملاتړ کې مهم رول تر سره کړ. دغو بنسټونو د مالي مرستو په وړاندې کولو، د زده‌کړو پلانونو او حقوقي مرستو سره له ښځو سره مرسته وکړه، چې پر حقونو یې برلاسې شي او په ټولنې کې فعالې وي.

## لاسته‌راوړنې او ننګونې

په دې دوره کې، افغانو ښځو په درسي، سیاسي او اقتصادي ډګرونو کې په پام وړ توګه ګډون وکړی شو. ښځې په پوهنتونونو کې په زده‌کړو بوختې شوې، په دولتي بنسټونو او نړۍ‌والو سازمانونو کې یې کار وکړ او په سیاست کې یې مهم رولونه تر سره کړل او په دې دوره کې، په ټولنې کې د ښځو شتون په پام وړ توګه زیاتوالی وموند. ښځو په دولتي، پوهنتونونو، نړۍ‌والو سازمانونو او آن په امنیتي ځواکونو او پولیسي برخو کې کار وکړ. خو ستر خنډونه؛ لکه له ښځو سره تاوتریخوالی، جنسیتي نابرابری او ټولنیز او سیاسي فساد، د دوی پر حقونو باندې د بشپړ برلاسي په لارې کې موجود وو.

## د طالبانو راتګ او د ښځو لپاره تیاره او ناڅرګنده راتلونکې (۲۰۲۱)

په ۲۰۲۱ کال کې د طالبانو واک ته له بیا راستنېدو سره، په افغانستان کې د ښځو د حقونو راتلونکی یو ځل بیا په ابهام کې ډوب شو. که څه هم، طالبانو اعلان وکړ، چې دوی به د شریعت په چوکاټ کې د ښځو حقونو ته درناوی وکړي، خو د تېرې ځپونکې تګ‌لارې د بیا تکرار نښې نښانې لیدل کېږي. په دې نښو کې د نجونو پر زده‌کړو باندې محدودیتونو، په ځینو برخو کې د ښځو د کار ممنوعیت او په ټولنې کې د ښځو پر حضور باندې فشارونو او نورو زرګونو شیانو ته اشاره کولی شو.

## په افغانستان کې د ښځو اغېزناکې څېرې

په وروستۍ یوه پیړۍ کې، افغانو ښځو په بې‌ساریو او اغېزناکو مبارزو سره په ټولنې او د هېواد په تاریخ کې مهم رول تر سره کړ. دلته د افغانستان په معاصر تاریخ کې ځینو اغېزمنو ښځو او د هغوی کړنو ته اشاره کېږي:

**۱. ملکه ثریا**

**کړنې:** ملکه ثریا د امان‌الله خان مېرمن او د افغانو ښځو د حقونو له مخکښانو څخه وه. هغې د نجونو په زده‌کړو او د ښځو د حقونو په ترویج کې کلیدي رول درلود او د ټولنیز او کلتوري پرمختګ د سمبول په توګه پېژندل کېږي. هغه د

ښځو د حقونو او د ټولنیزو اصلاحاتو د کنفرانسونو او فرهنګي پروګرامونو په جوړولو کې فعاله وه.

**۳. شېرین آریا**

**کړنې:** په افغانستان کې د ښځو د حقونو یوه فعاله او بریالۍ متشبثه. شېرین آریا د کوچنیو او متوسطه شرکتونو په جوړولو سره، د ښځو اقتصادي ځواکمنۍ ته توجه کړې او له هغوی سره یې د خپلو بوختیاوو په پیلولو کې مرسته کړې ده.

**۴. فوزیه کوفي**

**کړنې:** د پارلمان استازې او د بشر د حقونو فعاله. فوزیه کوفي په افغانستان کې د ښځو د حقونو او د هغوی سیاسي مشارکت لپاره په مبارزې کې یوه غښتلې څېره ده. هغه د بشر د حقونو د یوې مدافعې په توګه، په مختلفو برخو، لکه د ښځو زده‌کړو او روغتیا کې فعالیت کوي او د جنسیتي برابرۍ په رواجېدو کې بوخته ده.

**۵. سیما سمر**

**کړنې:** د افغانستان د بشر د حقونو د خپلواک کمېسیون مشره او د ښځو د حقونو فعاله. سیما سمر په افغانستان کې د بشر د حقونو په مخ‌کښانو کې پېژندل کېږي او په دوام‌داره توګه په هېواد کې د ښځو د وضعیت او انساني حقونو د ښه‌والي لپاره کوښښ کوي.

**٦. هدیه سادات**

**کړنې:** مشهوره لیکواله او د ښځو د حقونو فعاله. هغې د ښځو د حقونو په برخې کې د مقالو او کتابونو په لیکلو سره، په افغانه ټولنه کې د ښځو په اړوند مسایلو او ستونزو باندې کار کړی دی.

**۷. عزیزه عبداللهي**

**کړنې:** لیکواله او خبریاله، چې په ټولنیزو او ښځو پورې اړوندو مسایلو کار کوي. هغې د افغان ښځو پر وضعیت باندې په مقالو او راپورونو لیکلو سره، کوښښ کړی، چې د هغوی غږ نړۍ‌والو ته ورسوي.


نورې مبارزې ښځې: شکریه بارکزی، فاطمه مهدي، فرخنده هم‌درد، صفیه صدیقي، نجیبه فضلي، ناهید فرید او. . .

سلګونه مبارزې او د رول اتلې ښځې: د پارلمان غړې او د ښځو د حقونو فعالې. او د ښځو د حقونو او سیاسي مشارکت د غښتلیو پلویانو په توګه پېژندل کېږي او په زده‌کـــــړو او ټولنیزو چارو کې هم فعالې دي.

دا ښځې یې په ټولنیزو، سیاسي، او کلتوري ډګرونو کې، په رنګارنګ کړنو سره، نه یواځې په افغانستان کې د ښځو د حقونو د مخ‌کښانو په توګه پېژندل کېږي؛ بلکې د راتلونکي نسل لپاره یې د یوه سمبول په توګه هم کار کړی دی. د هغوی مبارزو او لاسته‌راوړنو افغانو ښځو ته الهام ورکړی دی او په راتلونکې کې به د لا ډېرو پرمختګونو زمینه برابروي.

**پایله**

افغانستان، له پیچلي او متنوع تاریخ سره، د تېرې یوې پېړۍ په اوږدو کې په سیاسي، ټولنیزو او کلتوري ډګرونو کې د ډېرو بدلونونو شاهد پاتې شوی. په دې لړ کې، په ټولنې کې د حقونو او برابر ځای د ترلاسي لپاره د افغان ښځو مبارزه، یوه بنسټي ننګونه وه، چې هماغسې روانه ده. د دغو سلو کلونو په اوږدو کې، افغانې ښځې له فرهنګي، ټولنیزو او قانوني خنډونو سره لاس او ګرېوان وې، چې خپل غږ د ټولنې او نړۍ غوږ ته ورسوي. په تېرو سلو کلونو کې د افغانو ښځو مبارزې، پر برابرو حقونو باندې د برلاسي لپاره د دوی د زړورتیا، ټینګ استقامت او ارادې څرګندوونکې دي، چې له سترو سیاسي، ټولنیزو او فرهنګي ننګونو سره مل وې. دغه مبارزې د زده‌کړو، کار او سیاسي مشارکت په برخو کې له پام وړ لاسته‌راوړنو سره سره، تل له سختو خنډونو؛ لکه، جنسیتي کینو، تاوتریخوالي او ناڅاپي سیاسي تحولاتو سره مخ وې. په ۲۰۲۱ کال کې واک ته د طالبانو بېرته راتګ، یو وار بیا د ښځو د حقونو راتلونکی له جدي ننګونو سره مخ کړی دی، د افغانو ښځو راتلونکی په کلکه د حکومت په نویو سیاستونو او د نړۍ‌والې ټولنې په ملاتړونو پسې تړلی دی؛ خو د دې مبارزو تاریخ څرګندوي، چې افغانې ښځې به یې هېڅ‌کله د خپلو حقونو لپاره له هلو ځلو لاس وانه‌خلي.



## مأخذونه


١. احمدي، فريبا. حقوق زنان در افغانستان: پیشرفتها و چالشها. هرات: انتشارات هرات، ۱۳۹۳.

٢. احمدي، ليلا. آموزش و توانمندسازی زنان افغان. کابل: انتشارات کابل، ۱۳۹٦.

٣. حسینی، حمیرا. زنان زیر سلطه طالبان. تهران: انتشارات تهران، ۱۳۸۰.

٤. خواجه، سيد محمود رفيعي. زنان و سیاستهای دولت در افغانستان پساطالبان. ترجمه حمیرا قادری. مزار شریف: انتشارات مزار، ۱۳۹۷.

٥. داوودی، سید طاها میر. زنان و دولت در افغانستان. کابل: انتشارات کابل، ۱۳۹۲.

٦. رسولی، عبدالقدير کهزاد. افغانستان: یک تاریخ مدرن. ترجمه آنجلو رسنایگام. کابل: انتشارات کابل، ۱۳۸۴.

٧. سمر، سيما. مبارزه زنان افغانستان برای حقوقشان. ترجمه فاطمه نوری. کابل: انتشارات کابل، ۱۳۹۸.

٨. شاهين، سيد يوسف. افغانستان در دوران جمهوری و حقوق زنان. ترجمه محمد کریم صادقی. کابل: انتشارات کابل، ۱۳۹۴.

٩. شفيعي، شيرين. زنان و جنگ در افغانستان.تهران: انتشارات تهران، ۱۳۹۵.

١٠. فریاد، مرضیه. زنان افغانستان: جنگ بیپایان مبارزه. تهران: انتشارات تهران، ۱۳۹۰.



## مېرمن مجله

مېرمن مجله د افغان مېرمنو لپاره یوه ځانګړې مجله ده، چې په پښتو، دري او انګرېزي ژبو باندې خپرېږي؛ مطالب یې ټول د مېرمنو په اړه باندې دي او هڅه کېږي، چې په خپراوي کې هغو لیکنو ته لومړیتوب ورکړل شي، چې په اوس مهال کې د افغانانو، په ځانګړې توګه د مېرمنو لپاره ډېر اړین دي.

د مجلې د لا معیاري کېدلو او اغېزناکه کېدلو لپاره مو راته نظرونه لېږلی شئ!

Merman Media